د اميرالكلام مير نظام الدين علي شېر نوايي د زوکړې پنځه سوه
اتيايمې کاليزې د بين المللي علمي – څېړنيز سيمينار په وياړ



# مير علي شير نوايي


ليکوال: وي. وي. بارتولد

ژباړن: سيد اسماعيل حسيني فاطمي


مير علي شير نوايي

ژباړن: سيد اسماعيل حسيني فاطمي

۱۴۰۰ هـ. ش


ISBN 978-9936-661-25-7

2021

**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**
**د علومو اکادمي**
**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست**

# میر علي شیر نوایي


لیکوال: وي. وي. بارتولد
ژباړن: سید اسماعیل حسیني فاطمي


۱۴۰۰هـ . ش


**د کتاب ځانګړنې**

د کتاب نوم: میر علي شیر نوایي
د کتاب اصلي نوم: د مرکزي آسیا په تاریخ څلور مطالعات
دریيم جلد: د ترکمنانو تاریخ
لیکوال: وي. وي. بارتولد

د چاپ نېټه: ۱۹۶۲م
روسي څخه انګريزي ژبې ته ژباړه: ولاديمير مينورسکي
انګريزي ژبې څخه پښتو ژبې ته ژباړه: سيد اسماعيل حسيني فاطمي
ايډيټ او اهتمام: څېړنوال محمد اصف احمدزی
خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د چاپ کال: ۱۴۰۰هـ. ش، د حمل مياشت / ۲۰۲۱م
د چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه
د چاپځای: الهام نبي زاده، کابل – افغانستان
ISBN:

**د چاپ حق له علومو اکاډمي لپاره خوندي دی**

بسم الله الرحمن الرحيم

**په لندن کې د افغانستان د تاريخي مطالعاتو د مرکز يادښت**

په لندن کې د افغانستان د تاريخي مطالعاتو مرکز ویاړي چې د خپلو علمي فعالیتونو په لړ کې د نوموتي روسي مؤرخ بارتولد دغه رساله چاپ ته چمتو کوي. بارتولد د مرکزي اسيا په اړه د مطالعاتو يوه مهمه لړۍ لري چې دربيمه برخه يې د سيمې د مهم تاريخي – فرهنګي شخصيت، مير نظام‌الدين علي‌شير نوايي (۸۴۴ هـ.ق - ۹۰۶ هـ.ق) په اړه ده.

د افغانستان اسلامي جمهوريت پتېيلې ده چې سږ کال د هرات د تيموري دوران د دغه مشهور شخصيت يادغونډه جوړه کړي. امير عليشېر نوايي د ميلادي تقويم پر بنسټ په ۱۴۴۱م زېږېدلی او پر ۱۵۰۱م کې وفات شوی دی، چې په دې حساب يې سږ کال د زوکړې ۵۸۰يمه کاليزه او د مړينې ۵۲۰ تلين دی.

امير علي شېر نوايي د تيموري دوران د روښانه پاچا سلطان حسين ميرزا په زمانه کې د مهمو دولتي دندو ترڅنګ د خپلې زمانې پياوړی ليکوال، شاعر، ژبپوه، عارف او انځورګر و. ده په دواړو (پارسي دري او ترکي چغتايي) ژبو کې شاعري او ليکوالي کړې ده، ځکه خو د ذواللسانين (دوه ژبي) شاعر په توګه د سيمې په ولسونو کې محبوبيت لري. د هرات تيموري واکمنې د علمپالنې، ودانۍ، اقتصادي ودې، هنر ته پاملرنې او فرهنګي برياوو له امله د ختيځ د رنسانس دوره ګڼل کيږي او تاريخي اسناد ښيي چې د ګڼو دغو هڅو او برياوو تر شا د امير علي شېر نوايي لاس و.

د منځنۍ اسيا په اړه د روسي پوهاند بارتولد د څېړنو يوه مهمه برخه د دغه شخصيت هڅو او زمانې ته ځانګړې شوې ده، چې وروسته بيا ولاديمير مينورسکي انګريزي ته ژباړلې ده.

موږ د دغې رسالې تاريخي – فرهنګي اهميت ته په پام غوره وګڼله، چې همدا برخه يې د امير علي شېر نوايي د کاليزې په مناسبت جوړېدونکي سيمينار په وياړ پښتو ته را وژباړو، ځکه خو مو له ښاغلي سيد اسماعيل حسيني فاطمي څخه وغوښتل، چې را پښتو يې کړي. ځای يې دی چې د ښاغلي فاطمي له زيار او هڅې مننه

## نتیجه

وکړو، همدا راز د افغانستان د اسلامي جمهوریت د علومو اکاډمۍ له لوی ریاست څخه هم مننه چې د دغه اثر د خپراوي ژمنه یې کړې ده.

په لندن کې د افغانستان د تاریخي مطالعاتو مرکز چې د ۲۰۱۹ کال د مې میاشتې په۳مه نېټه په لندن کې پرانیستل شو، د خپلې بدایې او خورا معتبرې علمي – تاریخي زېرمې څخه د ګران افغانستان او سیمې په اړه د نورو مهمو تاریخي پاڼکو او اسنادو په خوندي ساتنه، ژباړه او چاپ و خپراوي بوخت دی، چې ان شاءالله، ژر به خپلو درنو هېوادوالو، فرهنګیانو او د تاریخ و پوهنې مینه والو ته نور داسې اثار هم وړاندې کړي.

زه د دغه لنډ یادښت په پای کرښو کې یو ځل بیا له ټولو هغو همکارانو څخه مننه کوم، چې د دې کتاب په ژباړه، چمتوکولو او چاپ و خپراوي کې یې زیار ایستلی دی.

درنښت

دکتور وارث وزیري
په لندن کې د افغانستان د تاریخي مطالعاتو د مرکز مشر
د ۲۰۲۱ م کال د اپریل درېیمه

## د ژباړن خبرې

د بارتولد د څلورو مطالعاتو د هغې مقالې د انګریزي ژباړې له خپرېدو سره چې د میرعلي شیر په هکله ده، په دې اړه شوې ژمنه سرته ورسېده. مګر د دې مقالې د لومړۍ موضوع له خپریدو وروسته چې د ترکمنستان او سیمیرچي یو لنډ تاریخ او همدارنګه په دویمه موضوع کې الوغ بیګ ته ځای ورکړل شوی دی، دا په دې خاطر چې د میرعلي شیر مقاله په جلا توګه د یوه کتاب په شکل د خپرېدو لپاره یو څه لنډه وه، نو په همدې منظور پرېکړه وشوه چې دا موضوع د بارتولد د پراخو مطالعاتو د میراث له نورو برخو سره بشپړه شي.

د ترکمنانو د تاریخ هغه عنوان چې ژباړونکو د همدې مقصد لپاره غوره کړی دی، کېدای شي د پنځمې مقالې په توګه انتخاب شوې وي، بلکې په دې خاطر چې زموږ د دغې سلسلې عنوان ګډوډ نه کړي، د ضمیمې په توګه ور زیات شوی دی.

دا مقاله، بارتولد د خپل ژوند په سختو شرایطو کې لیکلې وه، دا هغه وخت ؤ چې نوموړي خپله مېرمن له لاسه ورکړه او په خپله یې ښه روغتیایي حالت نه درلود. د دې لپاره چې د مرکزي آسیا د نویو ملتونو د تاریخ په اړه د هغوی غوښتنو ته د قناعت وړ ځواب ووایي، نوموړي باید له پخوا څخه هم زیات کار کړی وای (نوموړي دا خبره په یو شخصي لیک کې کړې ده). د ترکستان دغه تاریخچوه د خپل معمول برې په اساس له پراخو منابعو داسې ډېر حقایق لاسته راوړي چې په راتلونکې کې به د هرې څېړنې پیلامه وي.

د اوسنۍ موضوع په توګه، دا اساسي مقاله چې د میرعلي شیر د څلورسومې زوکړې په یاد را منځته شوې ده، د ایران او ترکیې د هېوادونو په کلتور کې یې په دې اړه ډېرې خپرونې تولید کړې دي. که د دغو خپرو شوو مطالبو نوملړ را ټول کړو، نو په یوه مقاله کې

نتیجه

---

به خلاصه نه شي، بلکې په یقین سره ویلی شو چې د بارتولد مقاله لکه د نوح(ع) بېړۍ په یو ستر سمندر کې لا تراوسه هم لامبو وهي.

## میرعلي شیر نوایي

د یوه شاعر او په ځانګړې توګه د آرت او ساینس د یوه ملاتړي په حیث د میرعلي شیر دنده د تیموریانو له حاکمیت سره نږدې تړاو لري، دا دوره د فارسیانو او ترکانو د کلتوري تاریخ یوه ځلانده دوره ګڼل کیږي او همدارنګه د فارس د مسلمانانو د وخت بهترینه معماري په همدې دوره کې رامنځته شوې ده.

په طبیعي ډول دغه دوره د اروپایي عالمانو د بې کچې علاقې سبب شوه. مګر په دې اړه کافي او هر اړخیزې لیکنې چې د تیموریانو د حاکمیت او یا د هغه وخت د کلتوري او سیاسي سرلارو په اړه وي، نه تر سترګو کیږي. د یوه محصل لپاره په دې اړه د موادو کمی نشته، مګر په ډېرو کتابتونونو کې ډېرې داسې تیتې او پاشانه لیکنې شته چې لا تر اوسه د کره کېدو انتظار وباسي. په حقیقت

کې د تیموریانو د تاریخ په هکله کومه هر اړخیزه پلټنه نشته، بلکې یوازې انتقادي مطالعات شته.

په ۱۹۱۸ز ېږدیز کال کې ما، د الوغ بیګ او د نوموړي د وخت په اړه یوه رساله خپره کړه چې البته په دې هکله ډېر مواد په کې نشته. یوه تشه چې ما لیدله او وروسته مې په نیمګړې توګه ډکه کړه، هغه د الوغ بیګ د سکو نشتوالی ؤ، چې دا مسئله ډېره جالبه او د اهمیت وړ ده. دا سکې په ډاګه کوي چې د الوغ بیګ کلتوري او ساینسي زده کړې لا زیاتې ترکي وې. خو بیا وروسته نوموړی د تیموریانو د سیاسی او پوځي دودونو ساتونکی شو. دا موضوع اساساً مرسته کوي چې په سمرقند کې د الوغ بیګ تر واک لاندې ژوند په هکله موږ. ته لږ. څه نور هم بشپړ تصویر راکړي، هغه ژوند چې د الوغ بیګ د پنځلسمې پېړۍ له لومړۍ نیمایي سره توپیر لري، کوم چې بیا وروسته (۱۴۰۹- ۱۴۴۹ز) خواجه احرار نقشبندي د الوغ بیګ د څلوېښت کلنۍ دورې په پای کې سلطنت ته ورسېد.

په همدې کتاب کې ما د هرات یو بل پرتمین دولت ته اشاره کړې چې د تیموریانو د یو بل حاکم سلطان حسین دوره ده (۱۴۷۳- ۱۵۰۶ز) او علي شیر د سلطان حسین یو صمیمي او ګران ملګری ؤ.

دغه مقاله په هرات کې د سلطان حسین او میر علي شیر په ژوند لا زیاته رڼا اچوي. زما مقصد دا نه دی چې په دې اړه له اړینو ادبیاتو کار واخلم، بلکې هغه څه ته چې زه لاسرسی لرم، هڅه کوم د هغې په رڼا کې د میرعلي شیر ربښتینی تصویر انځور کړم. دا تصویر به د ختیځ خیال لیکنې او حتی اروپایي مداحګرۍ سره توپیر ولري.

همدارنګه زه هڅه کوم چې د الوغ بیګ په هکله د هغه خیالي نظر انځور وران کړم چې وایي نوموړی یو ایډیالیست عالم ؤ او د سلطنت له لومړیو ورځو یې له سیاست لاس واخیست او خپل ژوند یې ریاضي او علم نجوم ته وقف کړ.

د میرعلي شیر فعالیتونو د شرقي ژبو فاکولتې ته د ایم ای تیزس لپاره د سینټ پیټرزبرګ په پوهنتون کې یو مضمون را منځته کړ، د

## نتیجه

دې مضمون د مؤلف ایم نیکیستکي کار دا و چې میرعلي شیر یو ولسي او ادبي شخصیت معرفي کړي. د نوموړې ګرمه ستاینه لا ډېر وخت دمخه هېره شوې، خو پنځه کاله وروسته یوه بله رساله د ای بیلین له خوا چاپ شوه چې تر اوسه پورې د ختیځ او لوېدیځ لپاره د اعتبار وړ ده. ښایي دغه رساله د تاریخي مطالعې پر بنسټ لیکل شوې وای، خو مداحانه بڼه لري.

پر نورو دلایلو سربېره دا رساله د فرانسوي فصاحت او بلاغت په طرز لیکل شوې چې په ۱۸۶۰ز لوی ډوژي ۵ هم له دې طرزه آزاد نه و. د بیلین فصاحت او بلاغت د فارسي ژبې تر منابعو هم وړاندې درومي.

هغه متن چې بیاځلي چاپ شوی، وایي میر علي شیر په مشهد کې یو اجنبي او ناپیژانده شخص ؤ چې د ناروغۍ په بستر کې پروت ؤ، خو اصلي متن کې داسې څه نه دي راغلي. په ډېرو نورو مواردو کې ګورو چې ژباړل شوی متن له اصلي متن سره یو څه توپیر لري. بیلین په خپله رساله کې د هغو سرچینو د اعتبار په اړه څه نه وایي او نه په همدې هکله رامنځته شوو پوښتنو ته چې د روضة الصفا دویم جلد څومره د میرخوند او خوند امیر پورې اړه لري، شرح ورکوي.

مؤلف په خپله رساله کې د میر علي شیر د مرګ او جنازې په اړه له میرخوند نقل کوي، حال دا چې میرخوند په ۱۴۹۸ز او میر شیرعلي په ۱۵۰۱ز کې له دنیا سترګې پټې کړې دي.

په ۱۹۲۰ز کې ایې جي برون د بیلین رساله ستایي او له دې رسالې د میرعلي شیر د مجردانه او آرام ژوند هغه تصویر پور اخلي چې له حقیقت لیرې بریښي. د بیلین رساله تقریباً په ټولیزه توګه د اسماعیل حکمت له لیکنو چې د میر علي شیر بیوګرافی ده او د شاعر د پنځمې سلیزې (۸۴۴-۱۳۴۴ز) زوکړه نمانځي، ترتیب شوې ده.

د ایشیاتیک ژورنال په وروستۍ خپرونه کې د آی بویت یوه مقاله خپره شوې چې د تیموریانو د دورې په تمدن لیکل شوې، مؤلف د تیموریانو د کلتوري پرتمینې دورې تر پایه او بیا له همدې دورې په

پای کې د هغې رامنځته شوې سیاسی او ټولنیزې تشې په اړه تضاد لري.

همدارنګه نوموړی د سلطان حسین منت باره کرکټر ډېر ځلانده ترسیموي چې د مؤلف معلومات د معلوماتي سرچینو په هکله غیر کافي او غیر دقیق برېښي.

د ایی جې برون په شمول یو شمېر نور وروستي لیکوالان هم د حفیظې ابروس د لیکنو په اړه هماغه اشتباه تکراروي او وایي چې یوازې لومړي دوه جلده د دوی لاس ته ورغلي وو.

ایم بویت له میرخوند، خوند امیر، بابر او میرعلي شیر له لیکنو استفاده کوي. نوموړي په اولسمه پېړۍ کې پرته له کوم توجیه په هند کې د تیمور د وخت د جعلي تعلیمي ادارو یادونه کوي، خو په پنځلسمه پېړۍ کې له ایران څه نه وایي. له بلې خوا نوموړی د عبدالرزاق مولتا السادیان په ګډون یو شمېر شته مواد چې یوازې په (ایم اس اس) کې ورته لاسرسی شته، له پامه غورځوي. دغه غیر موجه آګاهي د هغو مسئولو سرچینو په شمول د ایم بویت په لیکنه کې د تیمور د وخت مبارزاتو او پاڅونونو او حتي د الوغ بیګ سمرقند چې بیا د خواجه احرار په سمرقند بدل شو، کومه اشاره نه کوي.

**ضمني یادونه**

یوازې د وروستي اثبات د لوستلو په وخت ما فرصت وموند چې د ایم بویت د تازه کتاب په اړه ځان ته قناعت ورکړم. د دې کتاب له ۱۶۲ څخه تر ۱۸۰ مخونو پورې سلطان حسین ته وقف شوي دي او میرعلي شیر د لا لیتریچر ترک) د چپتر په ۷-۲۰۵ مخونو کې په ضمني توګه یاد شوی دی. دغه کتاب زموږ په علم کې کوم اساسي شی نه ور زیاتوي. مؤلف لکه د پخوانیو لیکوالانو په څېر، هم د سلطان حسین د سلطنت او هم د میر علي شیر د ژوند په هکله کومه بشپړه مفکوره نه وړاندې کوي.

## ايرانيان او ترکان

مير علي شير ممکن د ترکانو د هغه وخت د ادبي او کلتوري ژوند يو ځلانده استازی دی چې په مشخصه توګه د فارس د مسلمانانو بشپړ کلتوري نفوذ ته تسليم شوی دی.
مونږ د محمود کاشغري له کاره پوهيږو چې ترکانو د اسلام له منلو وروسته هم خپله عوامي او ادبي شاعري درلوده، کومه چې ډېره کمه د فارسيانو تر اغېز لاندې راغلې وه. ان ترديې چې په دې اړه يو ضرب المثل دی چې وايي: هيڅ يو ترک بې ګل ګنډنې نه دی او هيڅ يوه پياله بې سر پوښنه نه ده.

کله چې ترکان په ايراني نړۍ کې د سياسي او پوځي ځواک خاوندان شول، نو د هغوی سياسي مفکوره د فارس د تورانيانو پادشاه افراسياب د حماسو تر اغېز لاندې راغله، د ايراني ايالاتو ترکي حاکمانو ژبه، نومونه او القاب ترکي پاتې شول او حتی ترکي ژبه په ايرانيانو کې هم خپره شوه.
د ترکانو ښارګوټي جوړ شول، لومړی په کاشغر او بيا په خوارزم کې. د سردريا د سيمې لره خوا کې د ترکي ادب مرکزونه او خوځښتونه رامنځته شول، خو بيا هم د کلتوري ترکانو لپاره دغه ادبي بهير د فارسيانو له ادبياتو سره د مقايسې وړ نه ؤ. همدا علت ؤ چې ترکي کلتور ډېر ژر د هېرېدو په لور کډه وکړه.
مير علي شير د ترکي شاعرانو او حتی شاهانو په اړه چې له مغلو وړاندې تېر شوي وو، ډېر څه نه پوهېده.
د نومورړي لپاره سلطان توغريل چې د سلجوقيانو د امپراطورۍ لومړی بنسټګر ؤ، د هغو ورځو په ترمينالوژۍ کې يو له ايراني سلاطينو ګڼل کېده.
مغلو له شرقي آسيا نه مرکزي آسيا ته خپل مروج کلتور راوړ چې د مرکزي آسيا د ترکانو کلتوري تکامل يې ډېر سخت اغېزمن

کړ. کله چې په لوېديځ کې مغل ، ترک رواجه شول، نو ترکانو هم په تدريج سره د چنګيز خان د امپراطورۍ رواجونه او دودونه پرېښودل.
د مغلو دودونه د دوی د امپراطورۍ له انقراض وروسته يوازې په درېيو دولتونو کې لا هم پاتې وو، د ګولډن هورډ په پادشاهۍ کې چې مرکز يې ولګا ؤ، فارس چې مرکز يې په شمال لوېديځ کې ؤ او په مرکزي آسيا کې د چنګيز خان د دويم زوی چغتايي په نامه يادېده.
داسې ښکاري چې د مغلو اشغال په هر ځای کې د ترکي وګړو په شمېر کې د ملاحظې وړ زياتوالی راوستی او هر چېرې د مغلو د دولت پرتم د ترکانو له ملي ويښتيا او کلتوري فعاليتونو سره مل شوی دی. د ګولډن هورډ په شرقي سرحد کې د خوارزم او اورجينج ښارګوټي په لويو ښکلو او مهمو ترکي ښارګوټو بدل شوي دي. د څوارلسمې پېړۍ په نيمايي کې د اورجينج په ښارګوټي کې د توري بيګ خانم له خوا يوه خانقا جوړه شوه چې دا ودانۍ د مغلو د دورې يوه ډېره ښکلې ودانۍ شمېرل کيږي.
د لېرې ختيځ د سردريا د سيمې په بارچکند کې يو عالم جمال قرشي يو محلي شخص المالک د يوه متکلم حسام الدين حميدي العظيمې بارچينلايت سره چې په درېيو ژبو يې خبرې کولې، ملاقات وکړ. نوموړي په عربي، فارسي او ترکي ژبو اشعار ليکل چې په دې توګه د پورتنيو درېوو ژبو ادبي بڼې د هغه وخت د اسلامي نړۍ لپاره ډېر اهميت درلود.
له دې دمخه د خليفه مامون (۸۱۳-۸۳۳ز) په وخت کې، فصاحت د عربي ادبياتو يو امتياز ګڼل کېده او د فارسي تورو خپله ځانګړتيا درلوده او اوس ترکي ژبې چې په خودکاره توګه وده کړې، د خپل پراخ طبيعت له امله په رسميت پېژندل شوې ده.
مارکوپولو هغه څه چې له خپل پلار او کاکا اورېدلي او درې کاله يې په بخارا کې تېر کړي (۱۲۶۲-۱۲۶۵ز) په فارس کې دا ښارګوټی تر ټولو بهترين ګڼي، دا په هېواد کې هغه ځای دی چې وګړو يې په فارسي ژبه خبرې کولې.

## نتيجه

---

ما له الوغ بيګ سره جوښت د مرکزي اسيا د خانانو د جوړښت او بيا په وروسته وختونو کې مې په انديجان کې د تيمور او اولوغ بيګ قرشي، شهري سبز او سمرقند يادونه وکړه.

په ذکر شوو درېيو ښارونو کې حاکمانو د ځان لپاره آبادي وکړه، خو انديجان د خلکو د توجه او علاقه مندئ په نتيجه کې منځ ته راغی چې البته دغه ځای مخکې له دې مجلل اوسېدونکي نه درلودل.

د پنځلسمې پېړۍ تاريخپوهان په ټوليزه توګه په دې نظر دي چې خان دووا په انديجان کې له خپلو خلکو سره مېشت شو چې بيا په ترک مېشته ښار تبديل شو.

بابر (چې په ۱۴۸۲ز فراغنه کې وزېږېد) وايي په دغه ښار کې داسې سړی نه ؤ چې په ترکي ژبه نه پوهېده. بابر زياتوي، د مير علي شير ليکنې په انديجان کې ترسره شوي او دا ښارګوټی د ادبي ژبې د صحيح تکلم ځای ګڼي. خو مير علي شير هيڅکله هم انديجان ته لاړ نه شو، يوازې د دوو سړيو په اړه به يې د انديجان يادونه کوله، چا چې په هغه ځای کې تعليم حاصل کړی او دا خبرې به يې کله ناکله کولې.

کېدای شي ځينې کسان داسې اټکل ولري چې لومړی د مغلو خانان او بيا وروسته تيمور دغې سيمې ته راغی چې له ايران بهر ايرانيانو ته ورته کلتوري وده ورکړې، خو دا کار نه دی شوی.

د کلتوري فضيلت په بنا ايران د مغلو په اشغالي سيمو کې خپل ځانګړی ځای درلود. ايران په يوازې توګه دومره تاريخپوهان وزېږول چې د چنګيزخان او تيمور او د هغوی د ځای ناستو د شاهکارونو په هکله يې پوره معلومات درلودل.

له ديارلسمې پېړۍ څخه تر پنځلسمې پېړۍ پورې په ايراني ښارګوټو کې د ايراني تاريخپوهانو ليکنې د راتلونکو نسلونو لپاره د يادونې وړ دي چې لږ تر لږه اوس مونږ ټول د ترکستان د واقعاتو په اړه پوهيږو او ځان د هغوی پوروړي ګڼو.

### هرات او د هغه اهميت

تیمور د سمرقند شاوخوا یو شمېر کلي جوړ کړل چې هغوی ته یې د سلطانیه، شېراز، بغداد، دمشق او مصر نومونه ورکړل او په دې توګه یې غوښتل چې دغه ځایونه په نورو ښارونو د سمرقند د غوره والي شاهد و اوسي. هرات په دې لړ کې شامل نه و او تیمور فکر نه کاوه چې په نږدې راتلونکي کې به هرات له سمرقند سره سیالي وکړي او حتی په سیاسي ډګر به بدل شي.

دا چې د تیمور نیت څه و، خو نوموړی د خوارزم له ښار سره چې د ایرانیانو لوی کلتوري مرکز ؤ، په یوه مرګوني معامله کې ښکېل شو.

ډېر ایراني ایالتونه په دې قادر نه وو چې د تیمور له ورانکارۍ او قتل عام څخه ژر تر ژره ځان ورغوي.

اروپایي عالمان اکثرا په دې عقیده دي چې د تیمور د ورانکاریو په اړه حقایق تایید شوي نه دي. د تیمور د سلطنت په اخري کال کله چې (کله ویجو) له فارس تېر شو، په ډاګه کیږي چې د هغه وخت شمالي فارس کې د سوځولو او وژلو نښې نښانې نه په سترګو کېدې. ډېر ښارګوټي د تیمور د زامنو او لمسیانو له خوا اداره کېدل، هغوی مقید وو چې د هغو ځایونو په بیارغونه کې مرسته وکړي.

هر یو شهزاده هڅه کوله چې په دواړو محلي او د مرکزي آسیا په کلتوري عناصرو خپله برتري ولري. ترکي شاعران نه یوازې په هرات، بلکې په شیراز کې هم موجود وو. هرات په خپله یو لوی ښار ؤ، خو د مغلو له ورتګ د مخه د هیڅ یوې ځانګړې کورنۍ پایتخت نه ؤ. دا ربښتیا ده چې غوریانو (دولسمې او څوارلسمې پېړۍ) کې هرات ته ډېره پاملرنه وکړه. خو د کورت کورنۍ چې په غوریانو پورې یې اړه درلوده، له هرات څخه را پورته شول. کېدی شي دا لومړنۍ ایراني الاصله کورنۍ وي چې د مغلو له اشغال وروسته په هرات کې را څرګنده شوې وي.

## نتيجه

په فارس کې د مغلو د اقتدار له زوال وروسته د هرات حاکم معزالدين حسين (۱۳۳۱-۱۳۷۰ز) آزاد شو او د خراسان د نورو برخو د نيولو هڅه يې وکړه.
په دغه وخت کې ترکي پوځي ځواکونه د چغتاى بيګ په استازيتوب په ترکستان کې برلاسي وو. هرات د جغرافيايي دلايلو له امله د ايران د ښاري کلتور او د ترکانو د پوځي دودونو له مخې مقيد وو چې د يو بل په وړاندې ودرېږي او دغه حالت نسبت نورو ځايونو ته په هرات کې ژر رامنځته شي او حتى د هغوى د اشتي کولو اړتيا وه چې په دې کار کې د مير علي شير په شمول د تيموريانو د دورې سړيو برخه اخيستله. په (۱۳۴۶-۱۳۵۸ز) د چغتاى بيګ، قازاقانو لا د مخه په لومړي ځل د هرات د حاکم پر خلاف جګړه پيل کړې وه. ويل کيږي چې د قازان دا خبره په تحقير آميزه ډول حسين ته متوجه وه چې هغه يو تاجک دى او غواړي سلطنت ته ورسيږي. مخکې له دې چې جګړه پيل شي، قازان خپلو پلويانو ته ويلي وو چې حسين د جګړې په اصولو نه پوهيږي. چغتايانو د حسين پوځيانو ته ماتې ورکړه، خو ويې نه شو کولاى د نوموړي هغه مستحکم ښارګوټی ونيسي. له هغې وروسته د کورتانو او چغتايانو ترمنځ اړيکې تر هغه وخته دوستانه وې چې په (۱۳۸۱ز) کې تيمور هرات ونيو او تر (۱۳۸۳ـ ۱۳۸۹ز) کې د کورتانو د کورنۍ واک ته يې د پاى ټکى کيښنود.
هرات د تيمور د زامنو په مسکن بدل شو، چا چې په خراسان حکومت وکړ. لومړى ميرانشاه په ۱۳۹۷ز او بيا وروسته شاه رخ د سيستان او مازندران په شمول د خراسان واکداران پاتې شول.
د نورو ايالتونو په نسبت د سيستان د بيارغولو خوشبختي نصيب نه شوه، ځکه په ۱۳۸۳ز کې تيمور د رستم مشهوره بند وران کړ.
سيستان د دواړه تيمور او شاه رخ په وخت کې د چغتايانو د اقتدار پر خلاف پاځونونه وکړل چې هر ځل له ورانېدو پرته يې بله پايله نه درلوده. مازندران لا دمخه د چنګيزيانو په وخت کې د خراسان سره يو ځاى شوى ؤ.

د حمدالله قزويني په قول، خراسان، کوهستان کومس، مازندران او طبرستان د مغلو تر واک لاندې په يو جلا دولت بدل شوي وو او د دغو سيمو عايدات د فارس له عايداتو جلا محاسبه کېدل. د دې محاسباتو توضيح بايد د هغه وخت د کوچيانو د ژوند په شرايطو کې وپلټل شي. د مغلو هغه قطعات چې په خراسان کې مېشت وو، په ژمي کې به د کسپين سمندر سواحلو ته لېږدول کېدل. دا ډول خوځښتونه اکثراً د تيمور او شاه رخ په تاريخونو کې ذکر شوي دي. د ستونزو يوه پايله چې د تيمور له مرګ وروسته مخې ته راغله، هغه د سمرقند پر ځای هرات ته د تيمور د امپراطورۍ د پلازمېنې رتبه ورکول وو.

تيموريان نه يوازې په خپلمنځي مبارزه اخته وو، بلکې د هغو کورنيو پر ضد هم په مبارزه بوخت وو چې د تيمور له خوا له واکه ليرې کړل شوي وو.

په لوېديځ کې د ترکمنو د تورو پسونو کورنۍ وشو کولای چې خپله پادشاهي بياځلي ترلاسه کړي او حتی خپل واک له خپلو پخوانيو سرحدونو هم لا وړاندې ور وغځوي.

له شاه رخ وروسته، جهان شاه د قره يوسف زوی په ۱۴۳۶ز کې د لوېديځ په لور درې لښکرې ولېږدولې چې د تيمور پر ضد وجنګېدلې، نوموړی د آذربايجان حاکم و.

د فارس په پاتې برخو کې د تيمور د درې مشرو زامنو، جهانګير، عمر شيخ او ميرانشاه واک په تدريجي توګه د شاه رخ زامنو ته منتقل شو.

په دې توګه الوغ بيګ له ۱۴۰۹ز په سمرقند، ابراهيم سلطان له ۱۴۱۴ز په شيراز او سيورغتميش له ۱۴۱۸ز په کابل، غزني او قندهار او د شاه رخ بل زوی بايسنقور چې په فارسي ژبه يې پوره تسلط درلوده، په هرات کې پاتې شو. نوموړی د خپل پلار وزير او د پلازمېنې د آرايش په چارو کې ياور و.

## نتيجه

په ۱۴۴۲ز کې د باینسقور د یوه کوچني او نابالغه زوی لپاره د مرکزي فارس په سلطانیه کې له درې ښارګوټو قزوین، ری او قم یو ځانګړی دولت جوړ شو.

په ټولیزه توګه د پلازمېنې په شمول د پخوانۍ امپراطورۍ وېش د کلتور د بیاځلي خپرېدو او انکشاف او پرمختګ سره مل ؤ. په همدې ډول نورو ښارونو هم لاسته راوړنې درلودلې چې بیا وروسته یې د ایرانیانو کلتوري دنیا ته هم ګټه ور وبښله. په ۱۴۳۵ز کې د ابراهیم سلطان له مرګ وروسته عبدالرزاق د نوموړي له ځانګړتیاوو یادونه کوي. نوموړي له شرف الدین یزدي چې یو نوبلست لیکوال ؤ، حمایت او ملاتړ کاوه چې د تیموریانو تاریخ، (ظفر نامه) بشپړه کړي.

د ازبکانو د حاکمیت په دور کې دغه تاریخ د یو بخارایي مؤلف له خوا په ترکي ژبه ژباړل شوی ؤ. مګر حتی د تیموریانو په دور کې هم د ترکانو د پاملرنې وړ ؤ.

شاعر لطفي چې علي شیر په نورو شاعرانو ترجیح ورکوله، د ظفرنامې تصدیق شوې بڼه بشپړه کړه. دا کتاب چې دوه زره بیته ؤ، هیڅ ډول مناسبه کاپي یې ترتیب نه شوه او ناپېژانده پاتې شو.

د شاه رخ د کورنۍ د غړو په لاس کې د قدرت تمرکز له سیاسي ټیکاو او ثبات سره مرسته ونه کړه.

د شاه رخ زامن او لمسیان په خپلو منځونو کې وجنګېدل چې په تدریجي توګه د تیموریانو دولت وشړېده او د هغو ولایتونو واک چې لا هم د تیموریانو په لاس کې و، د عمر شیخ او میرانشاه نسلونو ته منتقل شو.

په ۱۴۴۶ز کې شاه رخ په خپله د خپل یوه لمسي سلطان محمود پرضد د لوېدیځ په لور د لښکر وېستلو مشري وکړه. سلطان محمود اصفهان نیولی ؤ او د شیراز په محاصره کولو بوخت ؤ.

شهزاده وتښتېد، خو د هغه د مشاورینو له کتاره یوازې تاریخپوه شرف الدین چې د شهزاده له نږدې ملګرو ؤ، د شاه رخ په ګوتو ورغی.

ویل کیږي چې شرف الدین شهزاده ته مشوره ورکړې وه چې یو سپین ږیری باید یوه ځوان ته ځای خالي کړي او همدارنګه نوموړي شهزاده ته ویلي وو چې شاه رخ به هیڅکله هم لوېدیځ ته را نه شي.
شرف الدین یوازې دویم تور ومانه، خو دا چې د شاه رخ پر ضد یې څوک د بغاوت لپاره هڅولي وي، له حقیقت لیری وګانه. دا یوازې یوه هیله وه چې شاه رخ به په خپل لمسي رحم وکړي او د نوموړي بې پروایي به وبښي.
د الوغ بیګ زوی عبداللطیف چې له شاه رخ سره په پوځ کې ؤ، تاریخپوه یې په سطحي توګه تنبیه کړ او نوموړي ته یې یو مکتوب ورکړ، دا هغه کار و چې عبداللطیف غوښتل د تاریخپوه ژوند وژغوري. نوموړی یې ډېر ژر هرات ته واستاوه. د یوه راپور په بنیاد، عبداللطیف ادعا وکړه چې الوغ بیګ د خپلو نجومي ملاحظاتو لپاره شرف الدین ته اړتیا لري، نو په همدې اساس نوموړی یې سمرقند ته واستاوه. عبدالرزاق په دې موضوع څه نه وایي، خو تاریخپوه له هرات څخه وړاندې ور تېر نه شو.
کله چې خراسان په ۱۴۴۹ز کې د یو لنډ وخت لپاره د سلطان محمود له خوا ونیول شو، نو شرف الدین وشو کولای چې بیاځلي لوېدیځ ته ولاړ شي. نوموړي خپل مورني ځای یزد ته نږدې تافت ته ورغی او هلته په خپله خانقاه کې تر هغه و اوسېده چې بیا په ۱۴۵۴ز کې یې له دنیا سترګې پټې کړې.
سربېره پردې چې نوموړی د سلطان محمود ملګری ؤ، د هغه ورور عبدالقاسم بابر چې د خپل ورور قاتل هم ؤ، په ۱۴۵۲ز کې د شرف الدین د لیدلو لپاره ورغی.
د شاه رخ د سلطنت د ځای ناستو د اختلافاتو باوجود هرات ته چې کوم سیاسي دوامداره پرستیژ ورکړل شو، له هغه پرستیژ پورته ؤ، کوم چې تیمور سمرقند ته ور په برخه کړی ؤ.
په ۱۴۴۹ز کې د هرات پر ضد د سلطان محمود لښکرکشي یوه اندازه د هغې اعلامیې له مخې تحریک شوې وه چې د فارسي عراق

## نتيجه

او لورستان قومي مشرانو او سردارانو خپره کړې وه. په اعلاميه کې ويل شوي وو، هغوی به هغه چا ته غاړه کيږدي چې د شاه رخ د تخت او سلطنت په ساحه کې اوسيږي.

د ميرانشاه لمسي ابو سعيد چې په سمرقند حکومت کاوه، له ۱۴۵۱ز وروسته په وار وار هڅه وکړه چې هرات ونيسي او په خپل پايتخت يې بدل کړي، کله چې نوموړی په ۱۴۵۹ز کې خپل هدف ته ورسېد، نو په هرات کې پاتې شو.

څه موده وړاندې تيموريانو د ايران لوېديځه برخه له لاسه ورکړې وه.

د عبدالرزاق له قوله په ۱۴۵۳ز کې د فارس ټول لوېديځ ايالتونه د آذربايجان له پولو تر سمندره هغه ساحې چې اتيا کاله د تيموريانو تر واک لاندې پاتې شوې وې، ترکمنانو ته تسليم شوې.

په ۱۴۵۸ز کې جهان شاه هڅه وکړه چې هرات له تيموريانو ونيسي، مګر په خپلو هڅو کې بريالی نه شو.

په ۱۴۵۹ز کې يو تړون لاسليک شو چې له مخې يې د فارس غربي برخې جهان شاه او خراسان ابو سعيد ته په برخه شول.

په ۱۴۶۷ز کې کله چې جهان شاه مړ شو، ابو سعيد يو ځل بيا هڅه وکړه چې د تيموريانو واک په لوېديځ کې خپور کړي، دا هغه هڅه وه چې په ۱۴۶۹ز کې د نوموړي په مرګ تمامه شوه.

د ايران لوېديځه برخه د ترکمنانو تر واک لاندې پاتې شوه، يوازې په يو توپير سره چې د تورو پسونو کورنۍ د سپينو پسونو په کورنۍ برى تر لاسه کړ.

د دې نوې کورنۍ استازي اوزون حسن له (۱۴۶۶-۱۴۷۸ز) او د نوموړي زوی يعقوب له (۱۴۷۹-۱۴۹۰ز) په واک کې پاتې شول.

هم مهاله د تيموريانو دولت له سقوط سره مخامخ شو، ترکستان د ابو سعيد له زامنو سره پاتې شو او خراسان د سلطان حسين ځای ناستي عمر شيخ ته په لاس ورغی.

په داسې حال کې چې بهرني دولتونه تشکيل شول، خو د مير علي شير قضاوتمندانه ليکنو ته کوم کلتوري ارزښت نه ؤ ورکړل شوی.

د ترکمنانو پادشاهي په لوېديځ کې او د تيموريانو دوه پادشاهيو په سمرقند او خراسان کې ټولو په خپل منځ کې سره ښه پيوند نه درلود.

په ځانګړې توګه د خراسان بېلابېلو ښارونو هر يو ځان ته متخاصم سلطانان درلودل، سره له دې چې د يوې کورنۍ يعنې د سلطان حسين پورې اړه درلوده.

بېشکه چې د هرات کلتوري ژوند په سمرقند برتري درلوده، خو دا خبره لږه ډاګيزه ده چې څومره د تيموريانو ختيځ، هغه د ترکمنانو په لوېديځ برلاسی و.

زمونږ سرچينې چې په ټوليزه توګه د تيموريانو د دولت په وخت ليکل شوې دي، طبيعي ده چې د ترکمنانو په هکله يو اړخيز قضاوت لري.

تر ډېره حده داسې ويل کېږي چې د اروپايي عالمانو د اقوالو تذکره د شواهدو له مخې د تيموريانو له نورو بېطرفه سرچينو سره تناقض لري.

خو د مير علي شير نظر چې د سلطان يعقوب معاصر ؤ، په پرتليز ډول د پاملرنې وړ دی.

### د مير علي شير اصلي ځای او زلميتوب

مير علي شير په هرات کې زيږېدلی و (۸۴۴-۱۴۴۰ز)

د خوند امير له قوله د مير علي شير کورنۍ له تيموريانو سره نږدې اړيکې درلودې، په ځانګړې توګه د عمر شيخ له ټبر سره.

په بل عبارت، د مير علي شير کورنۍ له هغوی سره ناسکه ورورولي درلوده.

نتیجه

---

(کوکلتاشـي) دا کلمـه پـه ډیکشـنری کـې (کونګولتـاش) د ناسـکه ورور او یـا ناسـکه خـور پـه معنـا راغلـې ده. خـو چا چـې اورېدلي د (کوکلتاش) په تلفظ يې ويلي ده.

د ازبکانو د دورې د ترکستان يو شمېر زياتې ودانـۍ د کوکلتـاش تخلص لرونکو اشخاصو سره تړاو لري.

دا عبـارت د میـر علـي شیـر لـه نـوم سـره نـه لیـدل کیـږي، خـو د نوموړي د ورور درويش علي له نامه سره تر سترګو کيږي.

مير علي شير له يوې لوړې اشرافي کورنـۍ سره اړیکي لرلـې او له ځايه امير زېږېدلی ؤ. بيګ يا د (مغلو پـه اصـطلاح) نويـون پـه دې معنا چې له هر ډول مسئوليت څخه آزاد.

بيلين د مير علي شير د ليرې نيکونو له جملې څخـه د سام ميـرزا يادونه کوي چې د مير علي شير مورنـی نيکه ؤ.

بوسعيد چنګ د ميرزا بايقرا د وخت يو لـه سرداراتو اميرانـو دی چې د سلطان حسين نيکه ؤ. لکه څرنګه چې موږ ګورو علي شير پـه ډېرو مواردو کې خپل پلار ته راجع کيږي، پرتـه لـه دې چې نـوم يـې ذکر شوی وي.

د خوند امير له کيسو څخـه پـه يـوه کيسـه کـې د ميـر علـي شير د پلار نوم غياث الدين ياد شوی دی.

له سلطنتي خاندان سره د مير علي شير له نږدې شخصي اړيکو څرګنـديږي چـې نومـوړی د سـلطان حسـين د ښـوونځي ملګـری ؤ، دا هغه څه دي چې لا د مخه بابر يې يادونه کړې ده.

له بلې خوا داسې نه ښکاري چې مخکنيو سرچينو د بيلين په قول په نامه له هغو هلکانو يادونه کړې وي چې سره ملګري وو. دا کيسـه پـه سختـۍ د اعتبار وړ ده نسبت هغې تـه چې وايي دا درې واړه نظام الملک، حسن سبا او عمر خيام سره د ښـوونځي ملګري وو. دا رښـتيا ده چې دا وروستۍ کيسه په زماني لحاظ بې مورده او ناتائيد شوې ده.

سلطان حسين په ۱۴۳۸ز کې زېږېدلی دی چې له مير علـي شير څخـه يـوازې دوه کالـه مشـر دی او لـه شـهزاده سـره د يوځـايي تعليم حاصلول يې لـه بـاور ليرې نـه ښـکاري. پـه ۱۴۰۵ز کـې د تيمـور لـه

مرګ وروسته میرزا بایقرا دولس کلن ؤ. نوموړي خپل سیاسي قدرت په ۱۴۱۵ز کې له لاسه ورکړ. شاه رخ هغه قندهار ته واستاوه، چېرته چې نوموړي د محلي شهزاده حاکم قایدو پر خلاف دسیسه وکړه او زندان ته ولېږدول شو.

په پیل کې شاه رخ غوښتل چې نوموړی هندوستان ته واستوي، خو بیا وروسته یې فکر بدل شو او په خپله قندهار ته ولاړ. بایقرا د شاه رخ په پوځ کې شامل او بیا سمرقند ته واستول شو چې هلته ووژل شو. د نوموړي زوی غیاث الدین منصور د خپل پلار د وفات په وخت کوچنی ماشوم و. له هغې وروسته نوموړی د یو عادي وګړي په توګه په هرات کې اوسېده. کېدای شي نوموړی لکه د میرانشاه د زوی سیدي احمد په شان له غوښتنو ځوربېدلی وي چا چې په خپلو اشعارو کې له شاه رخ څخه د بیړنیو مالي مرستو غوښتنه کوله. پتېپل کیږي چې بیا وروسته د سیدي احمد زوی د سلطان حسین له خور سره واده وکړ. هغه کور چې سلطان حسین په کې زېږېدلی ؤ، د دولت خانې په نوم يادېده. د منصور کورنۍ خوشبخته وه او د سعیدي احمد کورنۍ کېدای شي له دغه کورني پیوند ګټه پورته کړې وي.

پېښو دېر ژر د میر علي شیر تعلیمي بهیر ته د پای ټکی کېښود. د نوموړي په وینا د شاه رخ له مرګ وروسته له دېرو ستونزو سره مخامخ شو چې له یو شمېر زیاتو خلکو سره یې له خراسان څخه عراق ته فرار وکړ.

د میر علي شیر سفر او په تافت کې له شرف الدین سره کتنه په مشخص زماني لحاظ د تائید، ستونزې رامنځته کړې دي.

شرف الدین په ۱۴۴۹ز کې په تافت کې مېشت شو چې په دې وخت کې میر علي شیر شپږ کلن نه ؤ، بلکې تر دې یې عمر زیات ؤ.

هغه اشعار چې د تاریخپوهانو له خوا د دې اجنبي هلک په اړه لیکل شوي چې وايي: صوفي هغه رندان نه غندي څوک چې له شرابو

نتیجه

---

سره مینه کوي، د دې لپاره چې د شرابو په پیالو کې د یار د مخ تصویر ګوري.

تافت ته د کاروان رسېدل او په خانقا کې له شرف الدین سره ملاقات حیرانوونکی نه دی، ځکه دا په شرق کې د تیمور د تاریخ د لیکوال محبوبیت څرګندوي.

د تاریخ رشیدي په قول، له شرف الدین سره د لیدونکو اشخاصو په کتار کې یو هم عبدالقاسم بابر ؤ چې بیا وروسته د مغلستان د خان یونس لیرې پرتې سیمې خان شو. دا راپور په زماني لحاظ پوره تناقض لري.

د ۱۴۵۰ز په پیل کې د تیموریانو تر واک لاندې سیمو کې یو اندازه نظم عملي شوی ؤ. له ۱۴۵۱ز عبدالسعید په سمرقند حکومت وکړ. په کال ۱۴۵۲ز د اګست په اته ویشتمه نېټه د دوشنبې په ورځ عبدالقاسم غرب ته له ناخوښه لېږدول کېدو وروسته چې د خراسان په نیولو پای ته ورسېد، دوباره هرات ته راستون شو.

په ۱۴۵۴ز کې نوموړي د سمرقند د نیولو ناکامه هڅه وکړه. په همدې کال نوموړی له ابوسعید سره تر یو تړون وروسته د ډیسمبر په پنځه ویشتمه هرات ته راستون شو. دا نېټې د سلطان حسین په ژوند کې مهمې وې او کېدای شي د میر علي شیراو د هغه د کورنۍ لپاره یې هم اهمیت درلود.

د خوند امیر په قول، کله چې سلطان حسین څوارلس کلن ؤ، له خپلې مور سره په مشوره د عبدالقاسم بابر خدمت ته حاضر شو. پټېیل کیږي دا کار له اته ویشتم له اګست وروسته په ۱۴۵۲ز کې کال ترسره شوی وي.

سلطان حسین د ۱۴۵۴ز په لشکرکشۍ کې له ابو سعید سره برخه واخیسته او بیا له بابر سره خراسان ته راستون نه شو.

نوموړی په دې کار کې تنها نه ؤ، بلکې له عمر شیخ پرته نور مرور شهزادګان هم ور سره ملګري وو.

واقعات په ډاګه کوي چې سلطان اویس د محمد زوی او د سلطان حسین تربور بغاوت وکړ، دغه بغاوت د شهزدګانو په اړه د ابوسعید د

شک سبب شو او د نوموړي تربور سلطان حسین یې د هغه د کورنۍ له دیارلسو خپلوانو سره د سمرقند د ارګ په ماڼۍ کې بندیان کړل.

کله چې دا خبر هرات ته را ورسېد، نو د سلطان حسین مور فیروزه بېګم، د تیمور د لمسي سلطان حسین چې په ۱۴۵۰ز کال کې وژل شوی ؤ، لور وه، سمرقند ته راغله چې د خپل زوی شفاعت وکړي. نوموړې د ابو سعید لمسۍ وه چې د میرانشاه د کاکا زوی ؤ. د نوموړې شفاعت ومنل شو او سلطان حسین له بنده آزاد شو او دوباره د بابر خدمت ته راستون شو.

خوند امیر وایي، میر علي شیر هم په هماغه وخت کې د بابر خدمت ته حاضر شو، خو دا نه په ډاګه کوي چې دا کار د سلطان حسین په لومړي او که په دویم ځل د خدمت په وخت رامنځته شوی دی.

د سام میرزا له قوله کېدای شي دا کار په دوهم ځل واقع شوی وي، ځکه د میر علي شیر پلار یو څه وخت د ابو سعید په خدمت کې ؤ. له دې مخکې صلاحیت لرونکی یعني عبدالرازق هم په دې حقیقت نه پوهیږي. هغه یوازې همدومره وایي چې سلطان حسین د ابو سعید په امر د سمرقند د ارګ په ماڼۍ کې بندي شو او هلته یې ډېر وخت تېر کړ. کله چې نوموړی له بنده آزاد شو، له بابر سره یوځای شو او بابر ورته په ډېره سخاوتمندانه توګه سل زره کیبک دیناره ورکول. کیبک دینار نقره یي سکې وې چې وزن یې له دوه درهمو سره برابر ؤ. یو نقره یي درهم د یو روبل له څلورمې سره برابر ؤ چې د سلطان حسین معاش پنځوس زره روبلو ته رسېده.

د دولت شاه په قول، د میر علي شیر پلار د بابر په خدمت کې ؤ، سره له دې چې هغه یو ترک ؤ، خو تعلیم یافته سړی ؤ او هڅه یې کوله چې خپل زوی ته د غوره تعلیم ممکن شرایط ور برابر کړي.

ویل کیږي، نوموړی د بابر په وخت کې یو دولتي چارواکی ؤ، خو د تاریخپوهانو په اند، دا خبره ډېره رښتینې نه برېښي.

## نتیجه

---

د میر علي شیر په خپله وینا، د هغه پلار یوازې د سبزوار ولایت والي ؤ چې د شیعه مذهبو مرکز ؤ. دا خبرې د میر علي شیر په ژوندلیک کې راغلي چې د هغه وخت مشهور شاعر میر آق مالک سبزوار یې ذکر کړی دی.
نوموړی چې په ۱۴۳۳ز کې وفات شوی، د میر علي شیر نږدې او صمیمي ملګری ؤ، خو له یو بل سره یې لیدنه او کتنه نه وه شوې او یوازې په مکتوبي ډول سره په تماس کې وو.
کله چې پادشاه، د میر علي شیر پلار سبزوار ته د حکیم په توګه واستاوه، نو د استر آباد حکیم د میر شاهي لپاره ولېږدول شو. دغه شاعر په استر آباد کې وفات شو چې مړی یې بېرته سبزوار ته راوړل شو او په ډېر عزت او د ډېرو خلکو په ګډون په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپاول شو.
د خوند امیر په قول، میرشاهي په ۱۴۵۳ز کې په استرآباد کې وفات شو، که څه هم په دغه وخت کې په خپله میر علي شیر د بابر په خدمت کې نه ؤ، خو پلار یې مخکې له دې چې سلطان حسین سمرقند ته راشي، د بابر په خدمت کې ؤ.
ذکر شوي موارد په ډاګه کوي چې میر علي شیر په دغه وخت کې نه ډېر کوچنی هلک او نه سپین ږیری سړی ؤ.
لکه د سبزوار د نورو وګړو په څېر میرشاهي یوه شیعه مذهبه شخص ؤ او دا امر د دې سبب نه شو چې نوموړی له باینسکور سره له نږدې ملګرتوبه منع کړي.
هغوی په دې خاطر سره لیرې شول چې شاعر نه غوښتل شهزاده خوشحاله کړي. نوموړي غوښتل چې له دې کاره یوازې مناسبه او ځانګړې ګټه پورته کړي. خو بیا وروسته شاعر هڅه وکړه چې د شهزاده په ستاینه کې شعر ووایي، خو په دې کار بریالی نه شو.
دغه شیعه اړیکې د میر علي شیر د شخصي تمایلاتو په هکله سوالونه را پورته کوي. د بیلین لپاره یوازې د میر علي شیر نوم د هغه په شیعه والي دلالت کوي. په داسې حال کې چې بابر میر علي

شیر د هغو کسانو له ټولي ګڼي چې سلطان حسین یې له شیعه مذهبه را واړاوه.
په دې اړه ډېرې نښې نښانې شته چې د تیمور او د هغه د سلطنتي خاندان په دوره کې د سني او شیعه ترمنځ دومره تاوتریخوالی نه ؤ رامنځته شوی، لکه دومره چې په شپاړسمه پېړۍ کې د ازبکانو او شاه اسماعیل په وخت کې رامنځته شو.
سلطان بابر چې د میر علي شیر لومړنی الګو ؤ، سني مذهبه ؤ، خو له شیعه مذهبو سره یې کومه دښمني نه درلوده. د دولت شاه په قول، میر علي شیر په دوو ژبو فارسي او ترکي اشعار لیکل، البته په دغه وخت کې د میر علي شیر ګډون په دولتي چارو کې له پوښتنې لیرې خبره ده.
سام میرزا وایي، بابر ډېر زیات میر علي شیر ته نږدې شو او هغه یې لکه خپل زوی ګاڼه.
سرچینې کومه داسې نېټه نه په ډاګه کوي چې سلطان حسین د دویم ځل لپاره څه وخت د بابر په خدمت وګمارل شو، خو دا کار باید د ۱۴۵۶ز له اکتوبر وروسته تر سره شوی وي. د همدې میاشتې په پیل کې بابر هرات د مشهد په نیت پرېښود او د همدې میاشتې په څوارلسمه نېټه مشهد ته ورسېد. له نوموړي سره په دې سفر کې سلطان حسین او میر علي شیر ملګري وو. دلته دا خبره په ډاګه کیږي چې د پخوانیو له خوا په سمرقند کې د ارګ د ماڼۍ محدودیت دومره دوام و نه کړ، لکه دومره چې عبدالرزاق یې موږ ته د فکر کولو وړ بولي.
بابر ژمی په مشهد کې تېر کړ او د ۱۴۵۷ز کال په مارچ کې په هماغه ځای کې وفات شو. د عبدالقاسم بابر له مړینې وروسته هغه دوه ملګري د دولسو کلونو لپاره سره جلا شول. دا کلونه د میر علي شیر لپاره په مشهد، هرات او سمرقند کې د مطالعې کلونه وو. خو سلطان حسین د میر علي شیر په شمول له خپلو معاصرو ملګرو سره خپل آزاد قزاق ژوند ته دوام ورکړ.

## نتيجه

په هغو لومړيو کلونو کې ځوان شهزاده د هيڅ ډول پرمختګ او پراختيا شوق و نه کړ، خو د بابر له مرګ وروسته په خراسان کې د ستونزو د را ولاړېدو په وخت نومورې هڅه وکړه چې په شخړو کې د ښکېلو مدعي ډلو له کتاره د يو او يا بل طرفداري وکړي. داسې ښکاري چې نومورى د بابر له مرګ وروسته په فوري توګه مروې ته لاړ او هلته له ميرزا سنجر سره يو ځاى شو. ميرزا سنجر هغه څوک ؤ چې بابر ورته په ۱۴۵۵ز کې د مروه، ماخان او جام ملکې ورکړې وه.

په کال ۱۴۵۶ز کې کله چې بابر له هرات نه د مشهد په لور لښکرکشي وکړه، د جام خلکو بابر ته د ميرزا سنجر د کمزورې اداري په هکله شکايتونه وکړل، مګر بابر په دې اړه هيڅ ډول اقدام و نه کړ.

د بابر له مرګ وروسته ميرزا سنجر د شاه محمود (د بابر يولس کلن زوى) په شمول هيچا ته د تسليمېدو ميل نه درلود. په دغه وخت کې بايسنقور بل لمسى چې د الادوله زوى ؤ، د بابر له وخته زنداني ؤ.

ميرزا سنجر د سلطان حسين تود هرکلى وکړ او نومورې ته يې خپله لور بايک سلطان بيګم په نکاح کړه. د همدې ښادۍ په مناسبت شهزاده ګانو، اميرانو او نورو مخورو اشخاصو ته ځانګړې تحايف ډالۍ شول. د سلطان مشر زوى بديع الزمان له همدې ښيښۍ دنيا ته سترګې وغړولې.

کله چې سلطان حسين په تخت تکيه ووهله، نو د خپلې ځوانۍ د وخت ښځې ته يې طلاق ورکړ چې دا کار د ملکې د غم سبب شو، ځکه نومورې خپل ځان په نَسَبي لحاظ د سلطان حسين په نورو ښځو پورته ګڼله او کله به چې سلطان خپلو نورو ښځو ته پاملرنه وکړه، د ملکې د قهر سبب ګرځېده. د ملکې دغه چلند سلطان مجبوره کړ چې نومورې ته طلاق ورکړي. ملکې د خپل ژوند پاتې برخه په ډېر غم او غصه کې تېره کړه تر هغې چې په ۱۳۸۸ز کې وفات شوه. د ملکې جنازه د بديع الزمان او نورو شهزادګانو په ګډون په شاهي

مراسمو خاورو ته وسپارل شوه، خو سلطان په خپله د نوموړي په جنازه کې شرکت و نه کړ. ملکې یوه مدرسه د خپل زوی بدیع په نامه جوړه کړې وه.

بابر دغه واقعه ډېره جدي و نه ګڼله او د سلطان حسین دا کار یې تایید کړ.

(یوه بده ښځه د یو ښه سړي په کور کې د ځمکې پر مخ د دوزخ د مزې څکل دي)

ځوان شهزاده د خپل خُسر اعتماد تر لاسه کړ، کله چې د ۱۴۵۱ز کال په دوبي کې میرزا سنجر د مشهد په لور حرکت وکړ، نو مروه یې سلطان حسین ته ور وسپارله. شهزاده د یوه مخور سردار حسن ارلات سره په دې شک په شخړه واوښت چې غوښتل یې نوموړی لاس په لاس ونیسي.

سلطان حسین مروه ونیوله، خو بیا وروسته له دې ځایه په زور وویستل شو.

نوموړي خپلو عملیاتو ته له مروې تر مرغابه دوام ورکړ او ژمی یې د مروې او خیوې تر منځ تېر کړ او د خوند امیر په قول د ۱۴۵۷ز کال په پسرلي کې د تیجان په جګړه کې په لومړي ځل بریالی شو. نوموړي د بابا حسن په ځواکونو برید وکړ کوم چې د ترکانو له خوا د ګورګان د سیند په غاړه ځای پر ځای شوي وو. نوموړي غوښتل چې د ابیوارد له لارې له سنجر سره یو ځای شي. بابا حسن ونیول شو او ووژل شو او د نوموړي د ځواکونو یوه برخه له سلطان حسین سره یوځای شوه.

په همدې کال، نوموړي نورې بریاوې هم تر لاسه کړې، د نیسا او استرآباد ښارونه چې د جهان شاه د تره د زوی ترکمن امیر حسین بیګ تر ولکې لاندې وو، ونیول. شهزاده یې له نیولو وروسته په دار وځړاوه. سلطان د دې لپاره چې وضیعت قانوني کړي، له نیسا څخه یې له سنجر او له استر آباد څخه یې له ابو سعید سره مذاکرات پیل کړل.

## نتیجه

---

لکه څه رنګ چې توقع کېده دغه لومړۍ هڅه د رد له ځواب سره مخامخ شوه. ابو سعید تر هغه دغه مذاکرات وځنډول تر هغې چې جهان شاه سره سولې ته ورسېد، له هغې وروسته یې د سلطان حسین استازی بندي کړ او هغه ته یې وښودل چې استر اباد به تري ونیسي. له دې وروسته د سلطان حسین او ابو سعید تر منځ اړیکې هیڅکله هم ښې نه شوې.

په ۱۴۵۹ز کال کې تاریخپوه عبدالرزاق د ابو سعید د استازي په توګه په ګورګان کې پاتې شو، په همدې کال کې ابوسعید په سراخس کې خپلو دښمنانو ته ماتې ورکړه، سنجر چې په دې جګړه کې حضور درلود، د ابو سعید په امر ووژل شو.

د لښکر یوه ډله د استر اباد په لور وتښتېده، سلطان حسین ځای ور نه کړ او قومندان چې یې یو شهزاده ؤ، ووژل شو. سلطان حسین د ابوسعید په نامه د سکو د جوړولو کار پیل کړ. نوموړي له عبدالرزاق سره یو ځای خپل یو استازی هرات ته واستاوه چې هلته ومنل شو، دلته له ترکمنانو سره جګړه لا د مخه پای ته رسېدلې وه. دا وضعیت د خوند امیر هغه توضیحات ردوي چې ګواکې ابو سعید او سلطان حسین سره جلا شوي وو.

په دې اړه د عبدالرزاق راپور ډېر د اعتبار وړ دی چې وایي د ابوسعید جګړه د سلطان حسین پر ضد له مازندران او خراسان څخه د غارتګرانه بریدونو په نتیجه کې را منځ ته شوې وه چې د دې جګړې له امله بریدګر سبزوار او نیشاپور ته داخل شوي وو. دا تخاصم او دښمني سلطان حسین پیل کړې وه. هغوی دا غارتګرانه بریدونه یو ځل نه بلکې څو ځلې ترسره کړي وو. په دې مبارزه کې یوه برخه د تاریخي او جغرافیایي پاملرنې وړ ده او هغه په ۱۴۶۰ز او ۱۴۶۱ز کلونو کې له استرآباد څخه تر خوارزم پورې د سلطان حسین جګړه ده. هغوی دوه ځله د آمو له سیند اوښتي وو. د ۱۴۶۰ز کال په پسرلي کې په سمندر د ابوسعید ګشت او ګذار و. نوموړي څو ورځې وروسته استرآباد ونیو او د کوچنیو او لویو بېړیو په واسطه له سمندر واوښت چې دغه سفر له سهاره تر ماښامه وخت ونیو.

ابوسعید خپل دربیم کوچنی زوی سلطان محمود په استر آباد کې پرېښود، نوموړی په ۱۴۵۳ز کال کې زېږېدلی ؤ. په ۱۴۶۱ز کال کې سلطان حسین په خراسان کې د ابو سعید له ستونزو ګټه پورته کړه او استر آباد یې یو ځل بیا ونیو او له هغه ځایه یې د هرات، سبزوار، نیشاپور او سرخس په لور لښکر ولېږداوه.

نوموړي پلازمېنه محاصره کړه او د آمو سیند لپاره یې ترتیبات ونیول چې د ابوسعید پوځونه ترې تېر نه شي، خو په دغه وروستي کار بریالی نه شو.

د همدې کال د اکتوبر په پنځمه سلطان حسین له محاصرې لاس واخیست او مازندران ته ستون شو، نوموړي په سرخس کې یوه پوځي اډه وساتله چې بیا وروسته ابو سعید ته تسلیم شوه.

د ابوسعید د پوځیانو په راتګ سره سلطان حسین یو ځل بیا خوارزم ته وتښتېد.

نوموړي د خیوې په شمول په خوارزم کې خپل واک و غځاوه چېرته چې خلکو د ابوسعید د والي پر خلاف پاڅون کړی ؤ. په خراسان کې د سلطان حسین دغه خوځښتونه د ۱۴۶۴ز د مخه ترسره شوي وو، نوموړي د نیسا، ابیوارد، مشهد، تورشیز او تون په لور چټک پرمختګ وکړ چې له وژنو او لوټمار سره ملګری ؤ.

په تورشیز کې له برې سره سره نوموړی ژمن و چې دوباره خوارزم ته لاړ شي ځکه خوارزم د پخواني حاکم شاه ملک د ځای ناستي نورسعید لاس ته ورغلی ؤ.

نورسعید د ابوسعید وارث ګڼل کېده، سره له دې چې نوموړي د ابوسعید پرخلاف څو ځله بغاوت کړی ؤ. په ۱۴۶۵ز کې سلطان حسین خوارزم له ازبکانو ونیو چې یوه اندازه ویجاړ شو. په دغه جګړه کې نورسعید د خپل غفلت په وجه لومړی واک له لاسه ورکړ او بیا وروسته یې د ژوند په بیه تمامه شوه.

په ۱۴۶۸ز کال کې سلطان حسین له ازبک خان ابوالخیر مرسته وغوښته، نوموړي یو ځل ابوسعید د سمرقند په تخت کښېنولی ؤ.

## نتیجه

خوند امیر شرح ورکوي چې سلطان حسین د خان د اردو له خوا استقبال شو، نوموړي هلته یوه اونۍ تېره کړه.

د سلطان حسین شراب څښلو او نه نیشه کېدلو نوموړي ته د خانانو تر منځ ځانګړی ځای ور په برخه کړ. ابو الخیر د فلج په ناروغۍ اخته ؤ چې بیا ژر وفات شو. د ازبکانو ترمنځ لویې ستونزې د دې سبب شوې چې له سلطان حسین سره مرسته ونه شي کولای. داسې ښکاري چې سلطان حسین د ازبکانو اړوند لوېدیځو ایالتونو کې پرمختګ وکړ. د نوموړي خور د استراباد له خان سره واده وکړ چې ممکن دا خان له ګورډن هورډ ایوان دریم سره دښمني درلوده. څه وخت وروسته شهزادګۍ له خپل ورور سره د یو ځای کېدو په نیت له خپلې یوې لور او دوو زامنو سره هرات ته راستنه شوه. شرایطو له سلطان حسین سره ډېره مرسته وکړه چې د ازبکانو له مرستې پرته خراسان ونیسي.

د ۱۴۶۸ز کال په فبرورۍ کې ابوسعید د لوېدیځ فارس د نیولو لپاره لشکرکشي وکړه چې د نوموړي د ژوند په بیه تمامه شوه.

د مني له پیله او د ژمي تر پایه په هرات باندې د سلطان حسین د برید تمه کېده چې په دې اړه دفاعي ترتیبات ونیول شول. د ابوسعید زوی سلطان احمد له پنځوس زرو کسانو سره له سمرقند حرکت وکړ، خو په مرغاب کې د خپل پلار له مرګه خبر شو. سلطان حسین باوري ؤ چې سلطان احمد د خپل پلار له مرګه خبر شوی دی. سلطان احمد له آذربایجان څخه تر راستنېدو وروسته په اندخوی کې د خپلو پاتو پوځیانو په ملګرتیا له خپل ورور سلطان محمود سره یوځای شو او هڅه یې وکړه چې هرات ونیسي، خو بریالی نه شو.

ورونو تصمیم ونیو چې د خراسان د نیولو هلې ځلې پرېږدي او د آمو له هغې خوا خپل پوځیان وباسي. دا چې د واقعاتو برۍ څومره په چټکتیا پرمخ روان ؤ، په دې اړه عبدالرزاق نېټه وار شرح ورکوي. په لسم د مارچ د جمعې په ورځ د مذهبي مراسمو له اجرا وروسته د ابو سعید د مرګ خبر خپور شو. د همدې میاشتې په شپاړسمه نېټه د پنجشنبې په ورځ سلطان محمود هرات ته داخل شو، په سبا یې د

جمعې د ورځې خطبه د هغه او د هغه د ورور په نوم ولوستل شوه، خو د راتلونکې جمعې په خطبه کې يوازې د سلطان حسين نوم ذکر شو. څو ورځې وروسته د ارګ قومندان اختيارالدين بغاوت وکړ، سلطان محمود مجبور شو چې له ښاره ووځي. د مارچ په څليريشتمه سلطان حسين شخصا هرات ته ننوت. په اپريل کې سلطان حسين له ميرعلي شير سره يوځای شو، څوک چې له دې مخکې د حاجي احمد بيګ په شمول د سمرقند د يوه ځواکمن حاکم سلطان احمد له پوځيانو سره مل ؤ.

موږ له دې دمخه وويل چې مير علي شير له ۱۴۵۷ز په مشهد کې اوسېده او له سلطان حسين سره نه مروه ته لاړ او نه له هغې وړاندې. د خوند امير او عبدالرزاق له قوله د سلطان حسين په پوځ کې يو سړی د مير علي شير ماما مير سيد آغا و. کله چې په ۱۴۶۱ز کې سرخس ابو سعيد ته تسليم شو، نوموړی له منځه لاړ. دغه تسليمي د يوې موافقې په ترڅ کې ترلاسه شوه او جنګيالي له جګړې فارغ شول. خو څه چې ابو سعيد له ځانه سره راوړل او د امير نه خوښېدل، هغه د معاهدې برخلاف عمل و چې امير يې د مرګ تر سرحده ورساوه. سيد آغا د سلطان حسين پوره باور ترلاسه کړ، نوموړي په ترکي ژبه شعر ليکه او د هغه شاعرانه نوم کابلي و. د نوموړي کشر ورور محمد علي د ترکي ژبې شاعر، موسيقي پوه او خوشنويس و چې تخلص يې غريبي غور کړی و.

د مير علي شير په څېر د نوموړي نور خپلوان هم د سلطان حسين پخواني خادمان وو او د خپلو خدمتونو په پاس د سلطان د ځانګړې پاملرنې وړ ګرځېدلي وو.

نوموړی بيا وروسته له سلطان جلا شو او په سمرقند کې د خپل مشر ورور د قاتل له خوا ووژل شو. دا وروستی ريفرنس کېدی شي يوازې ابوسعيد ته متوجه وي. له دې بحثه دا نتيجه په لاس راځي چې غريبي د مير علي شير په شان د سلطان حسين د قزاق ژوند په وخت کې هم د هغه په خدمت کې ؤ. له امير سيد آغا څخه د حيدر په نوم يو

نتیجه

ښکلی زوی پاتې شو. نوموړی یو زړور او ځمن ځوان ؤ چې د سلطان حسین په ژوند کې له دې دنیا سترګې پټې کړې، د هغه مرګ د نوموړي د پلار له مرګه هم لا زیات غمیز ؤ. نوموړی د میر علي شیر نږدې خپلوان ؤ چا چې حیدر خپل زوی ګاڼه. د مور او پلار لـه اړخه د ارګ له پخوانیو ساتونکو ؤ.

په پیل کې نوموړي خپل ژوند تعلیم او شاعرۍ ته وقف کړ، خو بیا وروسته یې په عسکرۍ، تیر اندازۍ او تورزنۍ کې ډېر شهرت ترلاسه کړ او بلاخره ګوشه نشینه شو. میر علي شیر وایي، کېدای شي نوموړي له ځانه نور مهارتونه ښودلي وای، خو پېښو سترۍ کړ او دا توقع تر سره نه شوه.

میر علي شیر په مجالس النفایس کې د مؤلف د ژوند او لـه نوموړي سره د نورو تماس لرونکو کسانو پـه اړه ډېر مشخص توضیحات ورکوي. لـه بده مرغه نـه شو ویلای چې دغه لیکنې پـه کومې مشخصې دورې پورې اړه لـري او نـه د مؤلف پـه اړه کومه مشخصه نېټه په ډاګه کوي، خو لـه ځینو پخوانیو دا نېټه (۱۴۹۰-۱) ښودل شوې ده. یوازې داسې ښکاري چې نوموړی د سمرقند د حاکم سلطان علي میرزا چې د سلطان محمود زوی ؤ، هم عصره وي، خو دا دوره ډېره لنډه وه، ۱۴۹۶ او کـه لـږه نـوره هـم اوږده وه، نـو (۱۵۰۰-۱۴۹۸ز) ته به رسیږي.

په ۱۴۹۰ز کال کې سلطان محمود او د هغه مشر ورور سلطان احمد لا هم ژوندي وو. ویل کیږي چې سلطان حسین لا دمخه مړ شوی ؤ او د میر علي شیر دا اثر لږ تر لږه د هغه لـه مرګ پنځه کاله وروسته لیکل شوی دی.

د میر علي شیر د لیکنې او نورو محاسبو لـه مخې پوهیږو چې نوموړی له ۱۴۵۷- ۱۴۶۹ پورې لومړی په مشهد بیا په هرات او تر هغې وروسته په سمرقند کې اوسېده. له مشهد نه هرات او بیا سمرقند ته د هغه د تللو پـه اړه نېټې نـه دي ښودل شوي. موږ ولیدل چې پـه مشهد کې د نوموړي اوسېدل، هغه وخت پای ته ورسېدل چې ابوسعید پـه خراسان کې خپل واک وغځاوه. داسې نـه ښکاري چې پـه هغو

ستونزمنو کلونو کې مشهد په پوځي عملیاتو کې ښکېل شوی وي، په داسې حال کې چې څو ځله پوځي لښکرې د ښار شاوخوا رسېدلې وې. خراسان د داخلي کشمکشونو په پایلو کې خراب شوی و. د دې حقیقت باوجود چې د میر علي شیر پلار له سلطان حسین سره یو ځای نه شو، خو بیا هم د دغې اوضاع له امله په امان کې پاتې نه شو.

نوموړی د ۱۴۵۸ز کال په پیل کې په هرات کې د شهزاده سلطان ابراهیم چې د شاه رخ کړوسی ؤ، په خدمت کې ؤ. په همدغه وخت کې نوموړي د تاریخپوه میرخوند له پلار سره یوځای د بلخ په سفارت کې له ابو سعید سره وکتل او بیا وروسته میر علي شیر په هرات کې له ابوسعید سره یو ځای شو. نوموړي هلته یو څه وخت تېر کړ، خو د هغه له کوربه توبه ناهیلی شو او سمرقند ته ولاړه. د بابر له قوله میر علي شیر د کوم جرم په پایله کې د ابوسعید له خوا خراسان ته تبعید شوی ؤ. خو میر علي شیر وایي د مطالعاتو لپاره سمرقند ته ولاړ. د هغه د تبعید یو دلیل دا کېدای شي چې په هغو شپو ورځو کې هیڅا نه غوښتل چې هرات د سمرقند په نیت پرېږدي.

په هماغه وختونو کې د یوسف بدیع لپاره دا خبره طبیعي وه چې اندیجان د سمرقند په نیت ترک کړي. دا کار د میر علي شیر ملګري محمد بدخشي چې د ایشکمش اوسېدونکی ؤ، هم کړی ؤ. نوموړی د تعلیم حاصلولو لپاره لومړی سمرقند او بیا وروسته هرات ته لاړ چې هلته خپل تعلیمات بشپړ کړي. خو له هرات نه سمرقند ته تګ کېدای شي د تبعید په معنا ؤ.

د میر علي شیر د ژوند په دې دوره د شیخ صدرالدین رواسي له حسابه لږ څه رڼا لوېدلې ده. نوموړی په غیر معمولي توګه ښکلی او سخنور سړی ؤ چې د میر علي شیر په زړه کې یې ځانګړی ځای ونیو. دی نورو لوړرتبه اشخاصو هم ستایلی، لکه د بدخشان شاه چې د شیخ مرید شو او هغه ته یې د شاګردۍ سر ټیټ کړ، همدارنګه د وخت پادشاه ابوسعید هم له هغه څخه زده کړه کوله.

## نتیجه

له دې خبرې څرګندیږي چې میر علي شیر د ابو سعید په وخت کې په هرات کې ؤ او د بدخشان شاه هم په هرات کې اوسېده.

د بدخشان شاه ادعا درلوده چې کورنۍ شجره یا سلسله یې اسکندر کبیر ته رسیږي، ابو سعید د شاه سلطان محمد له لور سره واده وکړ او له دې پیونده یې د ابوبکر په نامه یو زوی درلوده. خو بیا وروسته یې د بدخشان د شاه پرضد لښکر ولیږداوه، سلطان محمود په خپله خوښه تسلیم شو او هرات ته راغی، خو زوی یې کاشغر ته وتښتېد. په دغه وخت کې ابوبکر د بدخشان شهزاده شو خو تښتېدلی شهزاده بیاځلي بدخشان ته راغی او دا وار ابوبکر وتښتېده. وروسته له هغې چې ابوسعید د بدخشان د شاهي کورنۍ د ټولو غړو د وژلو حکم وکړ، بدخشان بنایي بیا ځلي نیول شوی وای. د دولت شاه په قول دا کار په (۱۴۶۶- ۱۴۶۷ز) کې ترسره شو.

میر علي شیر په دې اړه نښه نه ورکوي، یوازې د شاه د وژل کېدو ذکر کوي چې شاعرانه نوم یې لالي او د زوی نوم یې ابن لالي و. د وروستي شخص په اړه هم هغه څه وایي چې د نوموړي د ماماګانو د مرګ په اړه یې ویلي وو.

ابن لالي د هغه د پلار د قاتلانو له خوا ووژل شو. د بدخشان ځایي خلک په هرات کې له یو څه اهمیته برخمن وو. یو له دوی څخه عبدالصمد بدخشي ؤ چې ترې غوښتنه وشوه چې د ابوسعید د سلطنت په اړه د شعر په بڼه تاریخ ولیکي.

میر علي شیر نوموړی خپلې یوې موزونې اشتباه ته متوجه کړی ؤ چې دا خبره د دوی دواړو ترمنځ د دوستۍ د پیل سبب شوه.

دا حقایق ثابتوي چې میر علي شیر له ۱۴۶۴ز وروسته له ابوسعید سره یوځای شو.

دا هغه وخت ؤ چې سلطان حسین د یو مؤقت وخت لپاره او بیا وروسته په دایمي توګه له صحنې ووت او ابو سعید بدخشان ونیو. له دې دمخه سلطان محمد لا هم په بدخشان کې ؤ او خپله یوه لور یې د مغلو یو خان ته چې یونس خان نومېده، واده کړې وه. په ۱۴۶۴ز کې

لـه دې پیونـده پیدا شوی زوی محمـود د بدخشـان راتلـونکی خـان ګڼـل کېده.
د بدخشان له خلکو سره د میر علي شیر نږدې اړیکو تـه پـه کتو سره کېدای شـي د نوموړي دریځ تـه زیـان رسـولای وي. همدارنګـه کېدای شي د شاه شاوخوا کسان د هغه ښایسته شیخ ملګرو ته د شاه لـه پاملرنې حسود شوي وي.
میـر علـي شـیر د ژونـد تـر وروسـتیو ورځـو واده نـه و کـړی ، کورنۍ او ځای ناستي یا وارثین نـه درلـودل او زیاتـه توجـه یـې ښـکلو ځوانـانو تـه وه. یـو لـه دغـو ښـکلو ځوانـانو حـاجي محمـد ؤ، نومـوړی اصلا له مشهد ؤ چې د انسان په ښه پرښته ګڼل کېده، حـاجي محمـد پـه میر علي شیر ډېر ګران ؤ او لـه هغه سره یې له زوی څخـه هم زیاتـه مینه درلوده.
دا خبره ډېره په سختۍ د فهم وړ ده چې نومـوړي لـه سلطان څـه ډول تمه درلوده، هغه وخت چې سلطان د میر علـي شیر ماماګـان پـه مرګ محکوم کړل.
میر علي شیر په سمرقند کې دوه ملاتړي ملګري پیدا کړل، یو درویش محمد تار خـان چې خـور یـې د ابـو سـعید مشـره مېرمن وه او احمـد حـاجي بیـګ چې میـر علـي شـیر یـې پـه وار وار ذکـر کـړی، نوموړی یو مسلکي عسکر او تعلیم یافته شخص ؤ چې په خراسان کې لوی شـوی ؤ. نومـوړی د یوې شـعري مجموعې خاونـد او لـس کالـه د هـرات والـي پـاتې شـوی ؤ. لـه دې وروسـته پـه سـمرقند کـې د ټولـو ځواکمنـو حاکمـانو د قدرتمن نایـب السلطنت پـه توګـه وظـایف ترسـره کړي دي.
په سمرقند کې د میر علي شیر استاد خواجه فضـل الله ابـو لیثـي ؤ چې د عبدل لیث له کورنۍ څخه دی. په فقه کې د نوموړي علم هغه ته د دویم ابو حنیفه لقب ورکړی ؤ او د نومـوړي د عربـي ژبې فصـاحت له ابن حاجب سره پرتله کېده.

## نتیجه

د میر علي شیر نور هم عصره عالمان لکه محمد بدخشي هم د خواجه شاګرد ؤ.
میرعلي شیر له خواجه سره په سمرقند کې دوه کاله تېر کړل چې د معلوماتو له مخې دغو دوه کالو د نوموړي په ټول ژوند اغېز پرېښود.
میر علي شیر دغه دوه کاله د شیخ فضل الله په خانقا یا مدرسه کې تېر کړل چې نوموړي میر علي شیر ته د زوی خطاب کاوه. په سمرقند کې له اوسېدو وروسته میر علي شیر د سلطان حسین په خدمت کې حاضر شو چې له همدې ځایه شهرت ته ورسېد. د بابر له وینا څرګندیږي چې میر علي شیر د نفیسو اخلاقو خاوند او ډېر بانزاکته سړی ؤ. نور خلک بیا د میر علي شیر کرکټر له غروره ډک ګڼي، خو په سمرقند کې دا ډول چلند عمومي ؤ او طبیعي ګڼل کېده.
په ۱۴۶۹ز کې میر علي شیر له احمد حاجي بیګ سره یو ځای د سلطان احمد په پوځ کې ؤ. بیلین دا کار ساده لوحانه ګڼي او وایي چې دا کار د سلطان احمد له خوا احتیاطاً غوره شوی ؤ، خو شهزاده د میر علي شیر له موجودیت هیڅ ډول وېره نه درلوده. میر علي شیر کولی شول د خپلو ملاتړو په واسطه ځوان شهزاده ته لاره پیدا کړي، خو داسې ښکاري چې نوموړي دا آرزو نه درلوده، ځکه هغه پوهېده چې بهرنی سلطان احمد ټولو ته د ادبي پاملرنې وړ ؤ.
کله چې هرات ته د سلطان حسین د ننوتلو خبر تائید شو، نو میر علي شیر له احمد حاجي بیګ غوښتنه وکړه چې هرا ت پرېږدي. په دې هکله د سام میرزا هغه وینا چې سلطان حسین شخصاً له احمد حاجي بیګ وغوښتل چې میر علي شیر ته اجازه ورکړي، له سلطان سره یو ځای شي او حاجي بیګ په خپله په دغه سفر کې راحت وخت ولري. میر علي شیر هرات ته پرته له کومو تشریفاتو را ورسېد، خو یو وخت په ډېر مهم سړي بدل شو چې په دې اړه له سلطان سره له خپلې دوستۍ مننه کوي. په ۱۴ د اپریل د بایرام په ورځ میر علي شیر خپله قصیده سلطان حسین ته ولوستله چې د سلطان له خوا د میر علي شیر د ډېر تقدیر او تمجید سبب شوه. په غوځه توګه داسې نه ښکاري

چې دا قصیده به د میر علي شیر لومړنۍ وه او ابو سعید ته به خالي لاس ورغلی وای. په داسې حال کې چې له دې دمخه موږ د میر علي شیر د لیکنو په هکله څه معلومات نه لرو. د میر علي شیر یو دیوان چې په ترکي ژبه ترتیب شوی، د نوموړي د کوچنیوالي، زلمیتوب، ځوانۍ او زړښت د عمرونو تصویر وړاندې کوي. داسې ښکاري چې نوموړي دا دیوان په کوچنیوالي او زلمیتوب کې لیکلی وي او داسې څه په کې نشته چې عبدالقاسم بابر او یا ابو سعید ته یې په کې خطاب کړی وي. شاعر په دې اړه خپل دلایل درلودل چې په ځانګړې توګه شهرت یې د سلطان حسین له وخت سره تړاو لري، کېدای شي میر علي شیر خپل پخواني اشعار یا مخفي کړي وي او یا یې هم له منځه وړي وي.

## میر علي شیر او سلطان حسین له لومړي اختلاف دمخه (۱۴۶۹-۱۴۸۷ز)

میر علي شیر د هرات اوضاع هغسې چې د سلطان حسین له خوا په چټکۍ ونیول شو او هغسې چې تمعه کېده سوله بیزه نه وه . د حاکمانو له خوا د نوبت رامنځته کول او په خطبه کې د شیعه مذهبو دولسو امامانو د نومونو شاملول په لوړه کچه د خلکو د احساساتو د پارېدو سبب شول. په ځانګړې توګه د جون په څلیریشتمه د قربان بایرام د نمانځلو په وخت یو سخت برخورد رامنځه شو. په دغه ورځ یو متعصب شیعه موعظ خطبه ورکړه. سنیان سخت غصه شول او خپل شکایت یې سلطان ته په داسې حال کې ور ورساوه چې سلطان د لمانځه لپاره له کوره مسجد ته روان ؤ. سلطان خپل سړي واستول او مبلغ یې له منبر راښکته کړ او پر مځکه یې راکاږه او په دې توګه د خلکو په منځ کې د پادشاه صداقت بیاځلي پیاوړی شو. دا پیښه په ډاګه

## نتيجه

کوي چې د هغه وخت مذهبي شخړې په شپاړسمه پېړۍ کې د صفويانو په پرتله څومره بې ضرره وې.

بابر وايي، له دې پېښې وروسته سلطان حسين څومره په کلکه خپلې کړنې د سنت پر بنسټ تر سره کولې، سره له دې چې د سلطان د عمر زياتوالي او ناروغۍ هغه د لمانځه او روژې نيولو منع کاوه. مورن وليدل چې بابر مير علي شير يو له هغو اشخاصو ګڼي چې د هغوی د نفوذ له امله سلطان حسين سنيت ته را واوړېده.

سلطان حسين او مير علي شير فکر کاوه چې د مذهبي صلاحيت لرونکو استازو ملاتړ لرل ډېره اړينه خبره ده. په سمرقند کې د تيموريانو د تجاربو په نسبت هغوی خوشبخته وو ځکه تيموريانو نه منله چې له کليوالو شيخانو سره جوړ راشي.

د هرات د نقشبنديانو مشر عبدالرحمن جامي د لوړو زده کړو خاوند شاعر او عارف ؤ له چا سره چې تفاهم ته رسېدل ډېر آسانه کار ؤ. حتی د شيعه او سني د شخړو په اړه جامي په هرات کې د دوديز صبر او زغم پر خلاف عمل نه کاوه.

د ۱۴۷۲-۳ کال په ژمي کې جامي په بغداد کې ؤ او مکې ته د سفر په لاره کې د شيعه مذهب پر خلاف د ځينو مشکوکو اشعارو په لرلو تورن شو، جامي دغو کسانو ته وويل چې د خراسان له سنيانو مې هم همدغه توقع درلوده چې زما د کتاب په اړه به ماته ستونزې را ولاړې کړي.

د جامي او خواجه احرار د پيروانو ترمنځ ښې اړيکې د جامي په کتاب رشاحت کې تصديق شوي چې د دغه کتاب څو پاڼې خواجه ته ډالۍ شوې دي. خواجه احرار  په خپله جامي د ځان او د هرات د حکومت ترمنځ يو طبيعي مرکچي ګڼه.

د ۱۴۶۹ز کال د سپټمبر په يوولسمه سلطان محمود د استرآباد د ياغي شهزاده محمد يادګار پرخلاف چې د شاه رخ کړوسی ؤ، لشکرکشي وکړه. په همدغه مهال خواجه احرار له سمرقند څخه جامي ته يو ليک واستاوه. نوموړي جامي ته دا منلې وه چې د سمرقند بيګانو د سلطان حسين له اجازې پرته هرات پرېښی دی.

د خواجه له غوښتنې سره سم جامي د سلطان د ليدلو لپاره هغه کمپ ته لاړه چې نوموړی هلته د لښکر سمبالولو او لېږدولو په کار بوخت ؤ. سلطان، جامي په خاصو او استثنايي مراسمو خپل حضور ته ومانه.

په ۱۴۹۰ز کې کله چې خواجه احرار په خپله ورروستۍ ناروغۍ اخته ؤ، په مستقيمه توګه يې له مير علي شير وغوښتل چې نوموړي ته له هرات څخه يو طبيب ور واستوي، په دغه وخت کې هرات د ډېرو مجربو عالمانو او ډاکټرانو مرکز ؤ. دا سپين ږيری عارف چې د ټولو عالمانه زده کړو دښمن ؤ، اوس اړ شوی ؤ چې له ساينس مرسته ترلاسه کړي. مير علي شير نوموړي ته ډاکټر نظام الدين عبدالحی ور واستاوه. نوموړي ونه شو کولای چې د ډېر عمر لرونکی خواجه له ناروغۍ وژغوري، خو دغه کار د مير علي شير او سلطان حسين له عزت څخه څه کم نه کړل. نوموړی د سلطان حسين او د هغه د کورنۍ معالج ډاکټر ؤ چې البته په ډاکټرۍ کې د نظام الدين تخصص حرم ته د نوموړي لپاره د ننوتو لار پرانيستې وه.

په ۱۴۶۹ز کال کې مير علي شير د سلطان له پوځ سره ملګری ؤ. په داسې حال کې چې څو ځله مخکې سلطان حسين د هرات واک خپل د خور ښبتن د ميرانشاه لمسي احمد ته سپارلی ؤ. نوموړی له سلطان حسين څخه ډېر کلونه مشر ؤ او سلطان د هغه د اولاد په توګه د نوموړي درناوی کاوه. په ډيسمبر کې سلطان حسين خپل پوځونه استرآباد ته ولېږدول او مخکې له دې چې هغه ښار ته ورسيږي، دوباره راستون شو.

په مارچ ۱۴۷۰ کال کې سلطان، د محمد يادګار د تهديد پرخلاف چې د ترکمنانو له خوا ورسره زياتېدونکې مرسته کېده، يو ځل بيا لشکرکشي وکړه، هم مهاله په هرات کې ګډوډي رامنځته شوه، خلک د دولتی مامورينو د ناوړه چلند په وړاندې راپورته شول. سلطان، مير علي شير د حقايقو د پټيلو په منظور هرات ته واستاوه. د يوې جمعې په ورځ امير نظام الدين علي شير چې د پادشاه له پوره باور

برخورداره ؤ، د خلکو د ارامولو په منظور د منبر په سر د سلطان فرمان ولوست. دا د خلکو په منځ کې د میر علي شیر لومړنی خطاب ؤ چې یوازې د عبدالرزاق له خوا یې ذکر شوی دی.

له هغې وروسته کله چې میر علي شیر له دې ځایه ولاړ، یو بل فرمان را ورسېد چې په هغې کې د وزیر د بندي کولو او د نوي وزیر د ټاکلو حکم شوی ؤ.

کله چې د جون په میاشت کې په خپله سلطان هرات ته را وګرځېد، نو د خوشحالۍ له دودیزو تظاهراتو سره مخامخ شو، خو د یوځیانو ترمنځ خیانت نوموړی مجبور کړ چې له پلازمېنې ووځي. د جولای په پیل کې محمد یادګار تخت ته وخوت، خو په اګست کې د یوه حیرانوونکي برید له امله له تخت را پرېووت.

میر علي شیر په دغو چارو کې برخه واخیسته، د هغه د ټول ژوند یوازې په دې برخه کې یو ځل د هغه له تورې یادونه شوې ده. په داسې حال کې چې نوموړي په دې مورد کې کومه فعاله برخه نه درلوده.

خوند امیر وایي، سهار وختي د سلطان حسین پوځونو هغه ماڼۍ محاصره کړه، په کومه کې چې غاصب اوسېده. له پوځیانو سره د ځوابي برید وېره وه، له دې امله یې په ماڼۍ د برید پیلولو په هکله تردد درلود. د سلطان له تللو وروسته میر علي خپل آس امیر بابا علي ته وسپاره او له خپلې لوخې تورې سره په هغه کوچنۍ لوړه لار وخوت چې امیرقل علي پرې کله ناکله ګذر درلود. دغه وروستي او هغه پیاده پوځي حاجي علی، شهزاده په خوب ویده پیدا کړ، نوموړی یې له هماغې لارې بشکته برخې ته راوست چېرته چې سلطان حضور درلود، دا هغه لاره وه چې میر علي شیر پرې پورته شوی ؤ. سلطان د شهزاده د مرګ حکم صادر کړ.

د عبدالرزاق په لیکنه کې په دې اړه د میر علي شیر یادونه نه ده شوې، تاریخپوه یوازې د هغه برید یادونه کوي چې تمه یې نه کېده او پرته له تلفاتو د سلطان حسین په ګټه تمامه شوه، د دې لپاره چې شهزاده د بام د پاسه ویده ؤ او یوازې یو کس نر او دوه کسه ښځې

خدمتګارانې يې په خوا کې وې. د دغه مدعي له منځه وړلو وروسته په هرات کې د سلطان حسين اقتدار بې له کومې شخړې دوام وکړ تر هغې چې په څلورم د مي په ۱۵۰۶ کې مړ شو.

د ختيځ، لويديځ او جنوب خوا ته د سلطان حسين يو شمېر لشکرکشۍ بريالۍ نه وې، خو د عمر تر آخره د يوې لويې پادشاهۍ داسې واکدار پاتې شو چې هرات يې شانداره پايتخت و.

د بابر په قول د نوموړي د پادشاهۍ حدود له خوارزم څخه نيولې په شمال کې تر قندهار او سيستان په جنوب کې تر بلخ او غزني په شرق کې تر دمغان او په غرب کې تر بيستام غځېدلي وو. د نوموړي پايتخت هرات لکه په اسيا او اروپا کې د متوسطو پېړيو د پايتختونو په شان په خلاقيت او ورانکارۍ دواړو کې مشهور ؤ. دا په ډاګه کوي چې ولې کله ناکله په هماغه ليکنه کې د دې ښار د ژوند په اړه ضد او نقيض قضاوتونه شوي دي. د پلازمېنې او پادشاه دواړو په هکله د بابر له خاطراتو پرته څه نه ليدل کيږي چې کوم بل چا دومره لوړه ستاينه کړې وي. د نوموړي په قول په ټوله مسکونه نړۍ کې د هرات په شان ښار نه ؤ. د بابر په وينا د سلطان حسين په وخت کې د هرات د ښار اداري او قانوني ښکلا او ځلا، لس برابره نه بلکه شل برابره زياته شوه د سلطان حسين وخت يو فوق العاده وخت ؤ خراسان او مخصوصا هرات له لويو او بې سارو سړيو ډک ؤ. د نوموړي ليکنه دا په ډاګه کوي چې د هغه مقصد او الهام اخيستنه دا کار تکميلوي.

په داسې حال کې چې همدا بابر مني چې سلطان حسين د هغه زامنو او پوځيانو دا ښار د مستۍ تر سرحده پرېښی ؤ. سلطان حسين په تخت له کښېناستو وروسته په شپږو او اوو کلونو کې وکولای شول چې ښار د اصلاحاتو تر کچې رهبري کړي. نوموړي د ژوند تر ځلوېښتو کلونو هره ورځ له پيالو او مستۍ سره تېره کړه، نوموړي دا کار د ماسپښين له لمانځه وروسته کاوه او هيڅکله يې په سهار کې پياله نه پورته کوله. سلطان په خپل قزاق ژوند کې د توروزنۍ ډېر شجاعانه شاهکارونه په پوره جوش او خروش تر سره کړل چې کوم

نتيجه

بل تيموري سلطان نه وو تر سره کړي. نومړي په تخت له کښېناستو وروسته هم تفريح او خوښي ته وخت ورکاوه. د سلطان درباريان هم د هغه په لار روان شول او له دې وروسته يې په عسکري کارونو او مسابقو کې هيڅ ډول سختي او ستړتيا نه احساسوله. د حيرانتيا ځای نه دی چې د نومړي تر واک لاندې ساحې ښايي د پراختيا پر ځای ورځ په ورځ تنګې شوې وای.

شايد بابر غواړي چې د سلطان حسين د سلطنت په اړه د خپلې نقاشۍ دواړه مخه رنګ آميزي کړي. مخصوصاً دا دويمه برخه چې سلطان حتی د خپل زړښت په عمر کې شخصاً له خپل لښکر سره روانېده او د خپلو زامنو بغاوت يې هم په برياليتوب له منځه ووړ. بابر په خپله ليکنه کې د ازبکانو د اشغال پر وړاندې د هغې يوې اونۍ کمزوري مقاومت ته اشاره کوي چې سلطان په دې د خپل ځان شاوخوا د هغوی پر ضد هيڅ ډول د تيموريانو د لښکر د راټولولو هڅه ونه کړه. زوړ او ناروغه پادشاه خپلې ټولې هيلې په دفاعي عمل متمرکزې کړې وې، دا هغه څه دي چې د بابر دا وروستۍ څرګندونې تحريک کړې دي.

بابر وايي، که د تيموريانو په تخت ناست د سلطان حسين په شان پادشاه د دښمن پرضد د بريد کولو پرځای خپلو پوځيانو ته د دفاع کولو امر وکړي، نو خلکو ته به څه هيلې ور پاتې شي. د نومړي له مړينې لږه موده دمخه هغه وخت چې خراسان يې له لاسه ورکړی ؤ، سلطان حسين د ازبکانو پر خلاف لښکر ووېست چې البته وخت له وخته تېر شوی ؤ. سلطان د همدې لښکر د لېږلو په وخت مړ شو. نه سلطان او نه زامن يې د شيباني د لښکرو بسيا حريفان نه ګڼل کېدل ځکه د شيبانې لښکرو خپل وظايف په بلخ او خوارزم کې شرايطو ته په کتو ډېر ښه سرته رسول.

د سلطان حسين په خوا کې مير علي شير لومړی د مُهر د ساتلو مسئول ؤ، خو سلطان ته د هغه اهميت د دې وظيفې له درکه نه ؤ، نومړی پرته له دې د سلطان نږدې ملګری ؤ. همدا علت ؤ چې مير علي شير هڅه کوله، له هرې دندې ژر استعفا ورکړي. په دې اړه

ثبوت موجود دی چې نوموړي د مُهر د ساتنې له دندې د شاعر نظام الدين سهيلي په ګټه استعفا ورکړه. نظام الدين د حسين واعظ په ليکنې انوار سهيلي مشهوره ؤ.

د ۱۴۷۲ز کال د فبروري په مياشت کې مير علي شير په رسمي توګه امير يا بيګ و نومول شو چې له دې دمخه نه ؤ نومول شوی. د سلطان په امر يو بل کس مظفر بربلاس له مير علي شير دمخه بيګ نومول شوی ؤ. د بابر په قول، مظفر د سلطان د قزاق ژوند په دوران کې د نوموړي ډېر خدمتونه کړي وو، خو بيا وروسته هغه ټولې وعدې ماتې شوې کومې چې سلطان له مظفر سره کړې وې، سلطان حسين د خپل قزاق ژوند په مهال له مظفر سره ژمنه کړې وه چې د هر يو فتح شوې ايلات دريمه برخه به نوموړي ته ورکوي. دغه ستونزه د مظفر له مړينې وروسته هواره شوه. بابر وايي، نوموړي ته زهر ورکړل شوي وو خو خوند امير د هغه مرګ طبيعي ګڼي. د نوموړي ځای يو بل برلاس بيګ د برندک زوی شجاع الدين محمد ونيو، نوموړی له ترکستان څخه خراسان ته راغلی ؤ. نوموړي ته هم د مهر د ساتلو حق ورکړل شوی ؤ چې البته نورو بيګانو دا حق نه درلود.

سيد حسن ابن ارده شير په هماغه ورځ امير يا بيګ ونومول شو په کومه ورځ چې مير علي شير نومول کېده، کېدای شي نوموړی ډېر زوړ سړی ؤ، مير علي شير نوموړي ته د پلار احترام درلود او نوموړی يې د ترکانو او تاجيکانو تر منځ بهترين سړی ګاڼه. د نوموړي الهامات له صوفي ييزم سرچشمه اخلي او هغه يې له دنيايي کارونو ګوښه کړی ؤ. سلطان حسين يوازې د نوموړي د لږې مودې خدمتونه شمېرلي وو. د سيد ژوند په دوو برخو وېشل شوی ؤ، د اسراف دوره او د ترحم او زهد دوره. موږ پوهېږو چې دا دوه مختلف تمايلات د يوه صوفي لپاره يو غير معمول کار دی. په دې اړه نقل قولونه د نوموړي د هغو دواړو دورو له اشعارو روايت شوي دي. د

نتیجه

---

نوموړي ټاکنه هغه مشهور عارف ته پېرزوینه وه چې په دولتي چارو یې کوم اثر نه درلود.
په همدغه کال ۱۴۷۲ د جون لـه میاشتي دمخـه دوه نوري ټاکنې تـر سـره شـوې چـې ډېـرې مهمـې پـایلې درلـودې، یوه د نظـام الملـک خوافي د شهاب الدین اسماعیل زوی چې د وزارت په کرسـۍ وګمـارل شو، نوموړی له دې دمخه په خپل مورنـي ولایت کـې د یوه ښـارګوټي قاضـي ؤ. همدارنګـه د نومـوړي وطنـوال خواجـه مجـد الـدین محمـد د غیاث الدین پیراحمد خوافي زوی چـې د شـاه رخ د وخـت لـه مشـهورو دولتمردانو ؤ او د ابو سعید په وخت کې د دیوان له عـاجزو کاتبـانو او د سلطان د کورنـي ډاکټر عبدالحي نږدې ملګری ؤ د سلطان د واوره، میـرزا محمـد سـلطان د احمـد زوی کـوچني میـرزا (کیچـک میـرزا) د وزیر په توګه وټاکل شو. سلطان حسین له شـهزاده وغوښـتل چـې مجـد الـدین تـه اجـازه ورکـړي د پروانـه پـه توګـه کـار وکـړي. پروانـه هغـه څوک ؤ چې د منځنـي عصـر د ماموریت په دوران کـې پـر ټولـو نـورو مامورینو مقدم او د پادشاه د شخصـي اوامرو د انتقال د صـلاحیت لرلـو په شمول ټاکل کېده. هر هغه وخت چې سلطان به په دیوان کـې حـاضـر و، نو دا د مجدالـدین وظیفـه وه چـې د دولتـي چـارو راپـور واوروي او تصـامیم یادداشت کړي او هماغه کرښـه مهر ووهـي پـه کومـه چـې بـه د سلطان لاسلیک ؤ. په همدې منظور نوموړی د سلطان د نایب په توګه پېژندل کېده.
خونـد امیـر زیـاتوي، لـه امیـر میـر علـي شـیر او نـایـب مجدالـدین محمـد څخه په منـې چې د سلطنت او شاهي اقتدار له شان سره سم یې په دولتي چارو او پوځ کې سمون رامنځته کړ او هغـوی تـه یـې رونـق وبـاښـه.
د پادشاهې په دفتر کې دوه مخور شخصـیتونه ټاکل شـوي وو چـې بیا وروسته وپـېـیـل شـوه، دغو کسـانو د هماهنګه کار کولـو وړتیـا نـه درلـوده.
په ۱۴۷۲-۴ کې یو بل وزیر خواجه افضل الدین محمد کرماني ؤ چـې میـر علـي شـیر پـه لـوړه کچـه سـتایلی دی. نومـوړي د کرمـان د

وزیرانو له کورنۍ سره اړیکي درلودلې او د ابو سعید په وخت کې مستوفی ؤ، د مالي چارو د ریاست د مسئول په توګه وګمارل شو. نظام الملک او افضل الدین سره لاس ورکړ او د مجد الدین پرخلاف یې دسیسه وکړه چې نوموړی د سلطان په وړاندې ملامت کړي.

کله چې هغوی دواړو یو ځای خبرې وکړې، نو سلطان دا کار منصفانه ونه ګاڼه او د هغه په باور بهتره وه چې دغو دواړو کسانو باید د هغه یو کس پرخلاف په جلا جلا توګه خبرې کړې وای. دغه کار له مجدالدین سره په غیر مستقیمه توګه مرسته وکړه، د نوموړي د زړه د قوت سبب او د دښمنانو چې د سلطان له آشنایانو وو، د چپ والي سبب شو. دا کار د مجد له توقع پورته د هغه په ګټه تمام شو، نوموړي ته د ۶۰۰۰۰ دینارو په ورکولو او د پروانه دفتر د چارو په سمبالولو حکم وشو، نوموړي د دیوان په چارو کې مداخله ونه کړه.

د خوند امیر په قول، د مجد الدین د برائت اخیستنې او د هغه د بیا ګمارنې تر منځ نهه کاله تېر شوي وو (۱۴۸۷ز). د وزیرانو ترمنځ اختلافات باید په ۱۴۷۸ز کال کې پای ته رسېدلي وای.

په دغه موده کې له میر علي شیر یادونه نه ده شوې، یوازې د سلطان له آشنایانو ګڼل شوی، خو نوموړی پرته له شکه د مجدالدین اصولي دښمن ؤ، د دې لپاره چې په ۱۴۸۷ز کې د مجد بیا ګمارنه، له وظیفې څخه د نوموړي په لیرې کېدو تمامه شوې وي.

د افضل الدین له تاکل کېدو او د مظفر له مرګ څخه وخت وروسته میر علي شیر د بلخ د یاغي والي احمد مشتاق پرخلاف په لشکرکشي کې برخه واخیسته، نوموړی د تیموریانو په ترکستان( سمرقند)کې له سلطان احمد او سلطان محمود سره په تماس کې شوی ؤ. محاصره درې یا څلور میاشتې اوږده شوه، میر علي شیر هرات ته واستول شو چې پوځیانو ته اعاشه برابره کړي. داسې نه ښکاري چې نوموړی دوباره بلخ ته ستون شوی وي، خو په هرات کې د شهزاده ابوالخیر بغاوت په بریالیتوب وځاپه او نوموړی یې د هرات د

ارګ په مانۍ کې بندي کړ. د بلخ محاصره د یوه سوله ییز قرارداد په پایله کې پای ته ورسیده.

د مشتاق تسلیم او وبښل شو او بلخ د سلطان حسین مشر ورور شهزاده بایقرا ته وسپارل شو.

د جامي په قول، میر علي شیر په خپله خوښه راحتونه او اعزازونه پرېښودل او دوباره هغه نقشبدي درویشانه ژوند ته را وګرځېد چې په ۱۴۷۶-۷ کې یې بنسټ ایښی ؤ. دا ډول د علایقو قطع کول کېدای شي یوازې بهرني وي. میر علي شیر له دې وروسته په راتلونکو کلونو کې لا زیات تمرکز ترلاسه کړ او د سلطان په غیاب کې د پلازمېنې چارې ډېرې ښې سمبالې کړې.

د ابوسعید زوی میرزا ابوبکر چې د سلطان حسین په خدمت کې ؤ، د افغانستان په شمال کې یې د سلطان پر ضد بغاوت وکړ چې له ماتې سره مخامخ شو چې بیا استرآباد ته وتښتېد. نوموړي د ګرګان سیند ته نږدې د سلطان د هغو لښکرو له خوا ونیول شو او ووژل شو چې سلطان یې په خپله مشري کوله. د نوموړي سر هرات ته واستول شو. دا پېښه د ۱۴۷۹ز په اکتوبر کې رامنځته شوه او کله چې سلطان پلازمېنې ته راستون شو، د هرات والي میر علي شیر یې په خاصو مراسمو تود هرکلی وکړ.

په راتلونکي کال ۱۴۸۰ ز کې سلطان حسین خپل شیعه خواخوږي را وبلل چې میر علي شیر یې مخالفت و نه کړ. د مسلمانانو ترمنځ یوه تر ټولو خامه دهوکه دا وه چې په دولسمه پیړې کې د سلطان سنجر په وخت کې په بلخ کې په معجزانه توګه د خلیفه علي مقبره کشف شوه. هغه هېواد ته چې خلیفه هیڅکله نه ؤ ورغلی.

د چنګیز خان په وخت کې د بلخ او سیمې له ورانېدو وروسته دغه مقبره هېره شوې وه. خو اوس دا مقبره د بایزید بستامي د اولاد شمس الدین محمد چې له کابل او غزني راغلي له کتابونو دوباره کشف شوه. په دغه ځای کې یوه سپینه تیږه وموندل شوه چې وربانډې یې لیکلي وو: دا د خدای د زمري او د خدای د استازي چې د خدای حبیب دی، د ورور مقبره ده.

شهزاده بایقرا چې د دغه تخته سنګ د کشف په وخت موجود ؤ، خپل ورور او سلطان حسین خبر کړل چې سلطان په خپله له خپلو امیرانو او خادمانو سره یو ځای راغی او دغه مقدس یادګار چې اصلي ؤ، وپېژندل شو او په راتلونکي کال کې دا مقبره جوړه شوه او شاوخوا یې یو کلی، بازارونه او حمامونه جوړ شول.

د بلخ له کانالونو یو کانال چې پاک ګڼل کېده، دغې مقبرې ته په اختصاصي توګه وقف شو. سلطان دوباره هرات ته ستون شو او د دغه مناسب فرصت د نمانځلو په اړه یې پوځیانو او خلکو ته لویې ډالۍ ورکړلې. دغه مثال تقلید کوونکي پیدا کړل. په هرات کې د یوه موټر چلوونکي (ارابه کش ) له خوا په معجزه آسا ډول یوه مقبره کشف شوه چې ډېر مشتاقان لري. په هرات او شاوخوا ښارګوټو کې دې ته ورته نور کشفیات هم را منځته شول. ارابه کش په دغه وخت کې پوه شو چې له څه خطرونو سره مخامخ شوی، نو بیړه یې وکړه چې ځان پټ کړي. یو شمېر نورو دغل بازانو ته جزا ورکړل شوه چې په دې ډول دغو فعالیتونو پای وموند، خو هغه کلی د علي له مقبرې سره باقي پاتې شو او له لیرې او نږدې زائرینو د جلب او جذب لړۍ ورته ادامه لري او په نولسمه پېړۍ کې د مزارشریف په لوی ښار بدل شو.

د خوند امیر راپور په ډاګه کوي چې حتی د سلطان حسین روشنفکره پایتخت هم له ناخالصه خرافاتو په امان نه ؤ پاتې، په داسې حال کې چې له د غه کلتور څخه د خلکو لویې پرګنې بې اغېزې نه وې پاتې. میر علي شیر کله ناکله هغه اشعار رانقلوي چې د ټولو خلکو په ژبه ویل کېدل. په طبیعي توګه دغه زودګذره اشعار چې د خلکو په منځ کې په پراخه کچه خپاره شوي وو، ژر له یاده ووتل او هېر شول.

د بابر د وخت سمرقند کې په هر کور کې داسې اشعار موندل کېدل چې د نوموړي د تربور میرزا بایسنقور چې د سلطان محمود زوی ؤ، له خوا لیکل شوي وو. مګر نن ورځ د دغو اشعارو یوه کاپي

نتیجه

---

هم وجود نه لري. دا کارونه چې هدف يې د راتلونکو نسلونو لپاره پاتې کېدل وو، د شاهانو او لويانو ترمنځ تبادله کيدل. په همدې توګه په ۱۴۵۶ز کال کې د ابو سعيد سفير د الوغ بيګ يو نجومي چارت هرات ته د عبدالقاسم بابر لپاره راوړ.

يوه ورځ مير علي شير پرېکړه وکړه چې ترکمن سلطان يعقوب ته د جامي د کارونو مکمله ټولګه ور واستوي، خو د کتابتون مسئول په تېروتنه کې نوموړي استازي ته يو بل کتاب ورکړ چې ورته بڼه يې درلوده. دغه تېروتنه هغه وخت ډاګيزه شوه چې سلطان حسين له استازي وپوښتل، سفر خو به يې ستونزمن نه ؤ، نوموړي په ځواب کې وويل، له ځانه سره يې داسې يو ملګرى درلود چې د هغه په موجوديت کې هيڅوک هيڅ وخت نه ستړى کيږي. بيا وروسته نوموړي سلطان ته شرحه ورکړه چې مير علي شير ورته د جامي د اشعارو يوه ډالۍ ور استولې چې په دغه سفر کې د ستړتيا پر ضد يې شاهانه شفا درلوده. سلطان د دې کتاب د ليدلو په اړه علاقه وښوده، کله چې سلطان کتاب ولوست، د جامي د اشعارو په کې څه نښې نښانې نه ښکارېدې. دغه لويه تېروتنه د کمبختنه سړي يعنې مير علي شير په نامه تمامه شوه. په دې لړ کې داسې خلک هم وو چې ځانونه يې تعليم يافته ښودل خو په حقيقت کې هغسې نه وو. په هرات کې په ځانګړې توګه داسې ترکتباره خلک هم وو چې دا ډول ناخوښوونکي ادبي کتابونه يې ترتيبول چې نه يې دردونه درلودل او نه پټ رازونه. داسې ښکاري چې سلطان حسين له دې دويم کتاره سره اړيکې درلودې. نوموړي د زغم وړ ترکي اشعار وويل چې په هغه زړښت کې د هغه لپاره يې تفريحي بڼه درلوده، لکه کفترې الوځي.

په سمرقند کې داسې ناوړه چلندونه او دودونه موجود وو چې په طبيعي توګه يې له هرات سره توپير درلود.

مير علي شير د احمد حاجي بيګ له ترک ساتونکو د يوه داسې شرح ورکوي چې نوموړي د بازانو له ساتلو او روزل شوو آسونو له سپرېدو پرته کومه بله خوښي نه درلوده. هغه خام اشعار چې د همدغه

ترک په اړه مخې ته راځي، نوموړی داسې انګېري چې کېدی شي په سمرقند کې د ناخالصه روزنې ثمره وي.
په ۱۴۸۱ـ۲ کې لس کاله وروسته د میر علي شیر کشر ورور درویش علی، امیر یا بیګ و نومول شو. همدارنګه داسې ښکاري چې نوموړی هم یو کتاب خوښوونکی سړی ؤ چې میر علي شیر د کتابتون د مسئول په دنده وګماره. د کتابتون مسئول (کتابدار) کلمه تر ډېره وخته د درویش علي له نوم سره موجوده وه چې کله ناکله تحقیر آمیزه ګڼل کېده. خو د هرات په ادبي ښار کې د کتابتونونو د ساتونکو دندې له اهمیت سره مل وې.
د سلطان د کتابدار په اړه په یوه کیسه کې د داروغه له کلمې استفاده شوې چې کېدی شي د شاهي کتابتون د قومندان په معنا وي.
له هغې وروسته چې درویش علي، بیګ ونومول شو څو ځله یې د سلطان ځانګړې پاملرنه ګټلې او بایللې وه. کله چې نوموړی د بلخ والي ؤ، په خیانت تورن او مکې ته د حج لپاره ولېږدول شو. کله چې له مکې راستون شو، یو ځل بیا یې د سلطان دوستي خپله کړه. نوموړی د خپل ورور له مرګ وروسته خپل شخصي ژوند ته ورستون شو او د بلخ ښار په یوه څنډه کې اوسېده.
په ۱۵۰۳ز کال کې کله چې شیباني بلخ ته لشکرکشي وکړه، نو له ازبکانو سره یو ځای شو او د شیباني په استازیتوب یې ښار ته سفر وکړ. د نوموړي دنده دا وه چې محلي رئیسان مجبوره کړي د ښار دروازې د ازبکانو پر مخ پرانیزي.
نوموړي استدلال کاوه چې د تیموریانو تسلط پای ته رسېدلی خو له پرېکنده جزاګانو سره مخامخ شوی. د شیباني له مرګ وروسته نوموړی په قندوز کې له بابر سره یوځای شو او په نوموړي یې ناخوښه اغېز پرېوېست.
۱۵۱۱ز کال کې هغه لا هم له بابر سره ؤ تر هغې چې نوموړی د سمرقند په بیاځلي نیولو بریالی شو.

## نتيجه

د بابر په قول، مير علي شير د سلطان حسين ډالۍ او تحايف نه قبلول، خو برعکس نوموړي هر کال سلطان ته تحفې ورلیږلې. دا بيان د دې معنا نه لري چې نوموړي په هرات کې له خپل مقام څخه په ګټې اخيستنې مادي فوايد نه ترلاسه کول. د نوموړي شخصي وسايل په يوازې توګه د هغه د پراخو ادبي فعاليتونواو آباديو لپاره کفايت نه کاوه. دا خبره په ټولو سرچينو کې راغلې ده. دا خبره د سام ميرزا په څرګندونو کې هم ياده شوې چې سلطان په هرات کې مير علي شير ته ځمکه ورکړه چې مير علي شير وربانديې د اخلاصيه په نامه خيريه مؤسسات جوړ کړل. د دې نوم معنا دا وه چې جوړوونکي پادشاه ته خپل اخلاص څرګند کړي. په په وروستۍ نېټه تاريخپوه ميرخوند د اخلاص له خانقا او مدرسې څخه د خپلو مطالعاتو په لړ کې ګټه پورته کړه. مير علي شير په خپله د سمرقند له يو مشهور شاعر عبدالمؤمن يادونه کوي چې بيا وروسته يې په همدغه خانقا او مدرسه کې زده کړې وکړې. د مير علي شير د آباديو فعاليتونه يوازې تر هرات پورې محدود نه وو.

په ۱۴۸۷ز کې د مير علي شير د رسوايۍ په وخت دولت شاه خپلې ليکنې بشپړې کړې او د مير علي شير د آباديو لړۍ يې له دې نېټې دمخه درج کړه. د دغو ودانيو وروستۍ سلسله په هرات کې وه چې له هغې جملې د جمعې د لمانځه لپاره يو جومات، يوه مدرسه، يوه خانقا، يو روغتون او د عمومي حمامونو جوړول وو. دغو ټولو ودانيو د ښار په څلورمه برخه کې د انجيل د کانال په غاړه موقعيت درلود. له دې ودانيو څرګنده وه چې ټولې د يوې ډلې اخلاصيه پورې اړه لري. د دغو ودانيو په لړ کې يوه هم د رباط عشق په نوم وه چې له خراسان څخه تر جورجان او له هغه ځايه تر استرآباد پورې د سړک په غاړه دربند شيقان ته نږدې موقعيت درلود. دا ودانۍ په تېرو وختونو کې، قابوس ابن واشمګير کې جوړه شوې وه چې په ويرانه بدله شوې وه او بياځلي د مير علي شير په سخاوت رغول شوې وه. د سنګ بست رباط چې د نيشاپور، مروه، طوس او هرات په شاهراه کې موقعيت درلود، د مير علي شير له خوا جوړه شوې وه. د دې ترڅنګ

د ارسلان جاحب زوږ او کنډواله شوی رباط چې د محمود غزنوي د وخت معاصر ؤ، د میر علي شیر له لوري رغول شوی ؤ.

د دغو ودانیو پاتې شوني بیا وروسته په تفصیل سره مطالعه او تشریح شوي دي.

بله ودانۍ د هرات په لوېديځ کې د شاعر قاسم انور وه چې نوموړي ۱۴۳۱-۲ کې له دنیا سترګې پټې کړې دي. دا مانۍ د معمارۍ له اړخه د مسلمانانو په تاریخ کې د خورا اهمیت وړ ګڼل کیږي. بله ودانې د دیارلسمې پېړۍ د نامتو شاعر فرید الدین عطار مقبره ده چې وروسته بشپړه شوه او لا تراوسه په نیشاپور کې شته. بله ودانۍ په نیشاپور کې د دیرآباد رباط دی. د لا زیاتو آبادیو په لړ کې میر علي شیر هوډ درلود چې د چشمه ګل له چینې څخه مشهد ته د لسو فرسخو په اندازه کانال وکېنې. د میر علي شیر د ودانیزو فعالیتونو ستونزې د سلطان حسین له خزانې څخه له لګښت سره تړاو لري، همدغه لګښتونه د یو لنډ وخت لپاره د میر علي شیر د ګوښه والي سبب شوي وو.

## د ګوښه کېدو او اغېز کمېدو کلونه

له یو څه وخت راهیسې سلطان حسین هیله درلوده چې مجد الدین دوباره په دنده وګماري. میر علي شیر د دغه کار مخالف ؤ، د دې لپاره چې سلطان دغې ستونزې ته د هواري لار پیدا کړي، نو میر علي شیر ته یې د استر آباد د ایالت د والي مقام وړاندیز کړ. له ډېرو ردونو وروسته میر علي شیر ژمنه وکړه چې دا وړاندیز ومني او ولاړ شي. هغه دلایل چې سلطان یې په دې اړه و هڅاوه د بابر له خوا تشریح شوي دي. یو ورځ کله چې سلطان د یوه ځانګړي مقدار پیسو غوښتنه وکړه، د دیوان غړو د پیسو د خلاصون اعلان وکړ او له هیچا سره هغه مقدار پیسې نه وې. مجد الدین چې په دغه وخت کې حاضر ؤ، مسکی شو، سلطان غوښتل چې له نوموړي ځینې پوښتنې وکړي، مجد له سلطان هیله وکړه چې په خلوت کې ورسره وغږیږي.

## نتیجه

په دې ترڅ کې نوموړي له سلطان وغوښتل چې که لازم واک ورکړل شي، نو د سلطان د خوښې وړ مقدار پیسې به ور برابرې کړي، اقتصادي چارې به دوباره تنظیم او د دولت خزانه به له پیسو ډکه کړي او د سلطان د اړتیا وړ (د خلکو او پوځیانو) لپاره به پیسې شتون ولري.

نوموړي له سلطان سره د خپلې ژمنې د پوره کولو په ترڅ کې ایالتونه په یو شانداره دولت بدل کړل خو هم مهاله یې په پیل کې د میر علي شیر او بیا له ټولو بیګانو او اجرایوی شخصیتونو سره خپله دښمني څرګنده کړه. د همدغو مخالفینو د هڅو په پایله کې نوموړی له دندې ګوښه او زنداني شو.

د بابرد راپور په اساس څوک دا نه شي ویلی چې دا کار څه وخت او چیرته رامینځته شو.

د میر علي شیر د رخصتولو پرېکړه په مروه کې وشوه، هغه ځای چې سلطان د ژمي د تېرولو لپاره هلته پاتې شوی ؤ، کېدای شي دا د ۱۴۸۷ز کال پیل ؤ. له دې وروسته مجد الدین د دیوان په چارو کې برخه واخیسته خو په پیل کې یې خاص واک نه درلود. اصلي وزیران افضل الدین او نظام الملک وو. د نورو وزیرانو په لړ کې یو هم د افضل الدین ورور خواجه امین الدین محمود ؤ چې په ۱۴۸۲ز کې په دنده و ګمارل شو. نوموړي له شرابو او ښځو سره ډېره علاقه درلوده خو هم مهاله یې له مشخصو او مهربانو سړیو سره هم ناسته ولاړه خوښوله. په ټولیزه توګه نوموړی د خپل ورور، ورور ؤ او له هغې څه زیات نه ؤ. د دغو دوو امیرانو او سلطان ترمنځ پرېکنده منظر او د هغه پایلې د خوند امیر په راپور کې د بابر له راپور سره په یو څه تفاوت روښانه شوي دي.

په داسې حال کې چې مجدالدین د سلطان تخت ته ډېر نږدې ولاړ ؤ، سلطان له دوو وزیرانو وغوښتل چې نوموړي ته دوه تومنه چمتو کړي. لکه څرنګه چې توقع کېده وزیرانو هیڅ هم ونه ویل او له هغه ځایه لاړل. مجدالدین په خلوت کې سلطان ته وویل، دوه تومنه نه بلکې دوره زره تومنه په آسانه پیدا کېدای شي. د همدې ورځې په سبا

نوموړي ته پراخ صلاحیتونه ورکړل شول. هغه د سلطان په نامه د مُهر ساتلو، د ټولو راپورونو او شکایتونو د څېړلو دنده او د هغه له خبر پرته پر حکومتی یا مالي چارو د وزیرانو، امیرانو، لویانو او درباریانو راپورونه نه ترلاسه کیدل. نوموړي ته د سلطنت د معتمد او د پادشاهۍ د اعتماد وړ شخص لقب ورکړل شوی ؤ.

افضل الدین د مجد الدین په اجازه له خپل برخلیک بې خبره استرآباد ته لاړ او هلته له میر علي شیر سره په دې بهانه یو ځای شو چې ګواکې د خزانې پور دوباره پوره کوي. د مجدالدین اداري ټول خوشحاله ساتل، نوموړي دهقانان او د لاسي صنایعو جوړوونکي د چارواکو له ظلم وژغورل. هغه په لږ وخت کې له وروستیو چارواکو پخوانۍ اخیستنې یا اخاذۍ چې دوه زره تومنه یا (۱۰۰۰۰۰سیرکه) کېدې، دوباره تر لاسه کړل. هیڅ یو چارواکي جرئت نه کاوه چې له کوم چا سره ظلم وکړي او په بازارونو کې د هیڅ یو تاجر مال نه ضبطېده. مجدالدین خپل سهارونه تر غرمو پورې دولتي چارو ته وقف کړي وو او بیا تر نیمو شپو پورې له ځانګړو اشخاصو سره په خبرو بوختېده او هغوی یې په سخاوتمندانه توګه خوشحاله ساتل. د نوموړي مېلمستیاوې د بهترینو او پاکیزه خواړو له امله مشهورې وې. دی له بیګانو او چارواکو سره لږ پاتې کېده او ژر غصه کېده چې همدا کار د هغه د بربادۍ سبب شو.

درې کاله وروسته نوموړی له ګوښه کېدو او تعقیب سره مخامخ شو.

په ۱۴۹۴ز کې نوموړي مکې ته سفر وکړ او لاره کې مړ شو. ورکړل شوې نېټې په ډاګه کوي چې د قدرت لپاره مبارزې درې کاله دوام وکړ. دغه جریان په مختلفو پړاوونو کې د حبیب سیار له خوا لیکل شوی دی. افضل الدین د میر علي شیر په رضایت مکې ته لاړ. په لوېدیځ فارس کې ترکمن سلطان یعقوب نوموړی د خپلې پادشاهۍ د حاجیانو د ډلې مشر وټاکه تر څو خواجه وشي کولی په راحت د حج مراسم ترسره کړي. له حج څخه له راستنېدو وروسته نوموړی د

## نتيجه

ترکمن سپینو وریو د پادشاهۍ په سیمو عراق او آذربایجان کې پاتې شو. میر علي شیر، افضل الدین په ډېره خواخوږۍ یادوي او د مجد الدین د مزاحمتونو په سختو ټکو غندنه کوي. د هغه په وینا، داسې سړی نه ؤ چې د نوموړي ستونزې به هوارې شوې وای. مجدالدین، خواجه افضل تورن کړ او نوموړی یې له پنځلس کالو وزارت وروسته بهر ته په تلو مجبور کړ. (داهغه څه دي چې لږ څه مبالغه په کې شوې ده) د ترکمن په پادشاهۍ کې نوموړی د حج امیر وټاکل شو خو له حج څخه له راستنېدو وروسته د ترکمن سلطانانو له وار وار غوښتنو سره سره نوموړي د هغوی هیڅ ډول الزام ونه مانه، سره له دې چې د نوموړي مورنی ښار کرمان د ډېر وخت لپاره د ترکمنو په واک کې ؤ. نوموړي تیموریان خپل شاهان ګڼل او له هغوی پرته د هیچا په خدمت کې پاتې نه شو. په هغه وخت کې چې میر علي شیر د مجالسو اړوند مطالب لیکل، خواجه افضل الدین په قم کې ؤ. مونږ ګورو چې هغه په ۱۴۹۸ز کې هرات ته راستون شو. د نوموړي ورور امین الدین محمود هغه وخت خپل مقام بایلود چې ورور یې عراق ته ولیږدول شو، خو داسې ښکاري چې تر هغې وخته له هیڅ ډول ناراحتۍ سره مخامخ نه شو، کله چې مجدالدین له کاره ګوښه شو او نوموړی بیا په واک وګمارل شو.

میر علي شیر په استرآباد کې له هماغه درناوي برخمن ؤ کوم چې یې په هرات کې درلود. نوموړي ته د استرآباد له هرې څنډې ښه راغلاست ویل کېده او ډالۍ راتللې، حتی د یوه بهرني پادشاه سلطان یعقوب هم نوموړي ته تحایف ډالۍ کول. د نوموړي جلاوطنۍ یوازې یو کال دوام وکړ. په ۱۴۸۸ز کې نوموړي له امیر بدرالدین جلا او هرات ته راستون شو. نوموړي له سلطان وغوښتل چې اجازه ورکړي په پلازمېنه کې پاتې شي او د نوموړي دنده کوم بل چا ته حواله کړي. په دې اړه د سلطان ځواب منفي ؤ او میر علي شیر مجبور شو چې استرآباد ته ستون شي، نوموړی په استرآباد کې یو څو میاشتې نور هم پاتې شو. میر علي شیر خپل د کاکا زوی حیدر هرات ته واستاوه، د میر علي شیر د معلوماتو له مخې، د هغه د کاکا زوی

راپور ورکړ چې د سلطان ناظر هڅه کوي د میر علي شیر په خوړو کې زهر واچوي. همدا علت ؤ چې نوموړی لا زیات شکمن شو او د ځان پرخلاف یې له ښکاره بغاوت پرته کومه بله موضوع نه لیدله.
میر علي شیر او د هغه ملګرو ته، د ترکمن سلطان رغبت د دغه کار منل شوني کوي. سلطان په دې اړه ډېر ناراحته شو او یو قاصد یې له یوه لیک سره استرآباد ته واستاوه، په دغه لیک کې سلطان میر علي شیر ته ډاډ ورکړی ؤ چې د هغه ژوند ته د خطر په اړه ورکړل شوي معلومات بې بنسټه دي او د سلطان له خوا داسې کومه نقشه نه ده طرحه شوې. له دې وروسته میر علي شیر فوراً په لس دولس ورځو کې هرات ته راستون شو او سلطان ته یې قناعت ورکړ چې نوموړي داسې کوم څه نه دي ویلي او دا کیسه د حیدر له خوا جوړه شوې ده. حیدر ته دغه دروغ او یا هم بې وخته رښتیا ویل، لومړی د خپلې آزادۍ او بیا وروسته د خپلې دندې په بیه تمام شول. دا ځل میر علي شیر ته اجازه ورکړل شوه چې هلته خپله وظیفه ترک او په هرات کې سلطان ته نږدې د (مقرب الحضرت) په توګه پاتې شي. وروسته وپتېیل شوه چې میر علي شیر ته د هغه لیک پېچلې بڼه ډېره استادانه ترتیب شوې وه.
امیر مغل یو ځل بیا په استرآباد کې د میرعلي شیر ځای ناستی او والي وټاکل شو. خواجه شمس الدین کورد د میر علي شیر د صاحب دیوان او د یوه ملکي استازي په توګه پاتې شو. ۱۴۹۰ز کې مغل بغاوت وکړ چې صاحب دیوان یې لومړنی قرباني ؤ. سلطان حسین د نوموړي پر ځای خپل زوی بدیع الزمان د استرآباد والي مقرر کړ او مغل ترکمنانو ته فرار وکړ. په ۱۴۹۰ز کې د ترکمن سلطان یعقوب له مړینې وروسته د نوموړي زوی باینسقور په تخت کښېناست. هغه مغل په خپل خدمت کې ومانه خو کله چې یې له هغه څخه د بې وفایۍ لومړۍ نښه ولیده، نوموړی یې وواژه. مجدالدین په هرات کې لا هم په واک کې ؤ خو د میر علي شیر په راستنېدو یې نفوذ او اغېز کمرنګه شو، چې درباریانو لا مخکې د دغه حالت وړاندوینه کړې وه.

## نتیجه

---

کېدای شي د میر علي شیر ډله برلاسې وه، نو ځکه مجد الدین د یوه پخواني وزیر نظام الملک د پخلا کولو په یوه باوقاره دنده د بیا ګمارلو هڅه وکړه چې ګواکې د هغه په اړه کومه ملاحظه نه لري. دا او نور واقعیتونه ځرګندوي چې مجدالدین د لویانو هغسې قسم خوږلی دښمن نه ؤ، لکه څرنګه چې بابر او خوند امیر ورته اشاره کوي. له دې وروسته د میر علي شیر ورور درویش علي کوکلتاش چې د شهزاده ابراهیم حسین په نیابت د بلخ واکدار ؤ، بغاوت وکړ. د مجدالدین نفوذ او له میر علي شیر سره د نوموړي ترینګلې اړیکې ته په کتو درویش علي د خپل ځان په اړه اندېښمن شو او د حصار له واکدار سلطان محمود سره یې د مذاکرې ور پرانیست. کله چې دا خبرونه هرات ته را ورسېدل، نو فکر کېده چې مجدالدین باید د دولت په ګټه مؤقتاً له خپل واکه ګوښه شي. د نوموړي له واکه د لیرې کولو موضوع ته د اعزاز جامه ور واغوستل شوه. مجدالدین ته سل زره دیناره او په طلا ګل ګنډل شوې چپنه ډالۍ کړه. کېدای شي یو څوک د سام میرزا له خوا هغه تشریح شوی منظر په نظر کې ونیسي چې مجد الدین یه خپل کور کې د سلطان د تفریح زمینه برابروله او د سلطان له خوا دا ښنل شوې چپنه د میر علي شیر هغه چپنه وي چې سلطان ته یې ډالۍ کړې وه. په هر حال، په قدرت کې له درې کالو پاتې کېدو وروسته د مجدالدین ګوښه کول د نوموړي د لومړي تقاعد په معنا وي، په دې اړه لا د مخه ریفرنس ورکړل شوی دی. دغه پېښه په ۱۴۹۰ز کې رامنځته شوه او نظام الملک د یو وزیر په توګه ټول متمرکز قدرت په لاس کې لري.

هغه محیطي شرایط چې په پایله کې مجد الدین له واکه ګوښه شو، کېدای شي د درویش علي لپاره د قناعت وړ نه وي. د عمل د آزادۍ د خوندي کولو په منظور نوموړي له بلخ څخه د خپل ملاتړي شهزاده د لیرې کولو پرېکړه وکړه او په دې اړه یې هرات ته د شهزاده د احضارولو لپاره یو جعلي فرمان جوړ کړ. کله چې شهزاده هرات ته ورسېد، نو د درویش علي په خیانت پوه شو. سلطان حسین له خپل هغه والي سره چې د هغه په وینا ډېر ترې پوروړی ؤ، د دغه

غدر پـه اړه خپـل ښـکاره عصـبانيت څرګنـد کـړ. د ميـر علـي شـير دښـمنانو داسـې نظـر ورکـړ چـې لـه حکومـت څخـه د درويـش علـي سرغړونه د هغه د ورور له خبرتيا پرته نه ده ترسره شوې. سلطان د دغې ناراحتئ په اړه ځو ځو ځله مير علي ته شکايت وکړ. بلاخره يو زړور سړی خواجه غياث الدين محمد دهدار را منځته شو او سلطان ته يې خپل چمتووالی په ډاګه کړ چې دغه ناراضه غلام کتابدار بـه پـه ځنځيرونو تړلی د سلطان حضور ته راولي. سلطان اجازه ورکړه چې د دغه کار د سرته رسولو لپاره ولاړ شي. لږ وخت وروسته سلطان شخصاً له خپلو لښکرو سره په همدغه استقامت حرکت وکړ. بلخ ته له رسېدو سره سم خواجه درويش علي ته د دغه چلند له خطرنـاکو پـايلو يادونـه وکـړه او نومـوړی يـې وهڅـاوه چـې لـه خواجـه سـره د سلطان حضور ته لاړ شي. په دغه وخت کـې سلطان مرغاب تـه رسـېدلی ؤ. خواجه له درويش علي څخه درې يا څلور فرسخه مخکې کمپ تـه را ورسېد او راپور يې ورکړ چې هغه ناراضه غلام کتابدار يې راوستی دی. خو دا چې پـه لاره کـې يـې آهنګر پيدا نـه کـړ چـې ځنځير جوړ کړي، نو نوموړي غوښتنه وکړه چې اردو بازار تـه پـه دې اړه ځوک ور واستوي. سلطان ډېر زيات خوشحاله شو او د درويش علي ښښنه يې اعلان کړه. کله چې نوموړی راورسېد، نو ومنل شو او حتی اجازه ورکړل شوه چې د سلطان خېمې ته ورننوځي. له دې وروسته سلطان بلخ تـه داخل شو او ژمـی يـې همدلتـه تېر کـړ. پـه پسرلي کـې سلطان پرېکړه وکړه چې د سلطان محمود پر ضد په حصار بريد وکړي. پـه دغه وخت کې سلطان، مير علي شير پـه بلخ کـې پرېښود او نوموړي ته يې امر وکړ چې په خپلې قلا کـې يـې بندي کړي. د يو چا لپاره دا خبره د تعجب وړ ده چې دا کار بايد له سلطان سره پـه دوستئ د بـاور څرګندولو او کـه د قصدي سپکاوي پـه منظور وشـي. د سلطان دغـه لشکرکشي ناکامه وه، نوموړی له سلطان محمود سره پـه سولې کولو راضـي شـو او د دوی تـرمنځ پـه کـورني وحدت تمامـه شـوه. سلطان

## نتیجه

محمود په جنوب کې د آمو سیند تر غاړې ولایتونو په شمول خپل ټول پخواني ملکیتونه لکه بدخشان، قندوز او بغلان ترلاسه کړل.

سلطان حسین لومړی بلخ او بیا له یو لوی پوځي ښکار وروسته هرات ته راستون شو. نوموړي په بلخ کې میرزا حیدر محمد د امیر مبارزالدین ولي بیګ تر سرپرستۍ لاندې پرېښود او میر علي شیر احتمالاً له سلطان سره هرات ته ولاړ. په بلخ کې له ژمي تېرولو وروسته سلطان په مجد الدین او نظام الملک چې په خپله ژمنه کې صادق نه ؤ، د خپل کمزوري باور لومړۍ نښې نښاني وښودلې. خو هغوی د سلطان له طبیعت ژر ګټه پورته کړه. مجد الدین د برلاس د بیګانو، چې یو یې د باینسقور زوی شجاع الدین محمد، د پادشاهي لوی بیګ ؤ، په واسطه په یو اتل بدل شوی ؤ. نظام الملک د هغوی پر خلاف ډېر ژر دسایس جوړ کړل. مجدالدین، یو بل شخصي ملاتړی هم پیدا کړ، نوموړی جامي ؤ چې د مذهبي صلاحیت استازی ؤ. لکه څرنګه چې څرګنده ده جامي د دسایسو له حلقې بهر او پورته سړی ؤ. سلطان جامي په خپله یوه مرکه کې وویل، د پوځ او خلکو سعادت په قدرت کې د مجدالدین پاتې کېدل دي. داسې ښکاري چې سلطان د برلاس بیګانو د ابتکار په وړاندې له مجد الدین سره د لیدلو په ترڅ کې ګټونکی شو او نوموړي ته یې دوه زره دیناره د تحفې په توګه ورکړل.

خو یوازې څو ورځې وروسته سلطان د مجد الدین او د برلاس د بیګانو د زنداني کېدو امر صادر کړ. په دې لړ کې حتی مشر بیګ محمد د برندوق زوی هم یو کال د ارګ په زندان کې تېر کړل، نوموړي له خوشي کېدو وروسته یو ځل بیا د سلطان پام او د بیګلر بیګۍ مقام ترلاسه کړ. په طبیعي توګه د جامي په هکله چې د ډېر عمر سړی ؤ، هیڅ ډول ګام پورته نه شو. نوموړی د روانو واقعاتو په لړ کې کله د ۱۴۹۲ز کال د نومبر د میاشتي په نهمه د جمعې په ورځ وفات شو.

موږ د مجد الدین د وروستۍ استماع او نیول کېدو د دقیقې نېټې په هکله څه نه پوهیږو، نو په همدې منظور نه شو ویلی چې د هغوی

د جلا کېدو تر منځ څو ورځې تېرې شوې وې. په هر حال، سلطان او د نوموړي اطرافیانو دا فرصت ترلاسه کړ چې د متوفا د یادولو په ترڅ کې نوموړي ته خپل درناوی څرګند کړي. د جامي جنازه یوه ورځ وروسته یعنې د شنبې په ورځ د سلطان او نورو لوړپوړو چارواکو په ګډون خاورو ته وسپارل شوه. (په دې هکله د وزیر یادونه نه ده شوې). سلطان او میر علي شیر د جامي د روح د ښادولو لپاره په خپل نوبت لویان، سیدان او عالمان په هغه ځای کې استقبال کړل، چېرته چې د جنازې مراسم نیول شوي وو. البته میر علي شیر د جامي د هغه شفاعت په اړه چې د مجد الدین په هکله یې کړی ؤ، چوپ پاتې شو.

میر علي شیر، جامي ته یو ځانګړی شعر هدیه کړ چې په دې شعر کې له نوموړي سره د لویې دوستۍ پراخه شرح ورکړل شوې وه. میر علي شیر د جامي د وروستۍ ناروغۍ په وخت د نوموړي د حال او احوال پوښتلو لړۍ جاري وساتله او په هغه ماښام چې جامي وفات شو، ټوله شپه ویښ پاتې شو. نوموړی نیمه شپه په آس سپور شو او د جامي د مرګ د خبر د څرنګوالي په اړه هلته ورغی او بیا سبا ته یې د نوموړي په جنازه کې شرکت وکړ. خواجه دهدار چې د میرعلي شیر په خدمت کې ؤ، یو له ډېرو هغو کسانو ؤ چې هلته د ناروغ پوښتنې ته تللی ؤ، نوموړي په دغه ځای کې قران کریم تلاوت کړ. له جنازې وروسته میر علي شیر د تسلیت د پیغامونو د حاصلولو په لړ کې یو لیکلی پیغام ترلاسه کړ چې د شهزاده بدیع الزمان ؤ چې بیا وروسته د استرآباد والي شو. همدارنګه د ملکو له جملې ښځه یوې په مستقیمه توګه او په خپله ژبه میر علي شیر ته مخامخ خپل د تسلیت مراتب وړاندې کړل. اتفاقا د نومونو پر یووالي سربېره دا ملکه د بدیع الزمان مور نه وه ځکه نوموړې لا د مخه وفات شوې وه. ویل کېږي چې د میر علي شیر او بدیع الزمان ترمنځ یو مخلصانه محبت وجود درلود.

## نتیجه

له مجدالدین څخه په داسې حال کې استنطاق وشو چې په څولنو تړلی ؤ او دا حالت معمولا دردناک ؤ. نظام الملک او د هغه یاورانو د ګوښه شوي هغه وزیر د تورنولو په اړه څه پیدا نه کړل چې د هر لګول شوي دینار حساب یې ورکړی ؤ.

خو کله چې نوموړی یوه ټیټ رتبه سړي محمد امر آبادي ته چې یو متقاعد کاتب ؤ، ور وسپارل شو، مجدالدین د دې پرځای چې د دغه کاتب له مخامخ استنطاق خلاص شي، غوره یې وګڼله چې د هرې سرغړونې او هر لګول شوي تور ځواب به په لیکلې بڼه ورکړي. له دې وروسته کله چې د مجد الدین په شخصي شتمنۍ د ارزونې رڼا واچول شوه، نوموړی له توقع پورته د زیاتې شتمنۍ خاوند ؤ. د سلطان له قوله ویل کیږي چې کله به مجدالدین کومه قېمتي تحفه ترلاسه کړه، نو زه باوري وم چې هغه به یې ماته راوړله. اوس داسې ښکاري چې نوموړی له ما سره دومره آزاد نه ؤ. د استنطاق پر وخت شکنجې ته اجازه ورکړل شوې وه خو دومره نه چې د بندي ژوند له خطر سره مخامخ کړي.

د مجد الدین امتحان هغه وخت پای ته ورسېد، کله چې نوموړي یوه بله مالي دنده لاسلیک کړه. لکه څرنګه چې نوموړي نه شو کولای دا دنده پر مخ بوځي، نو په پټه توګه د فرانکس په ملګرتیا کرمان ته ولاړ. له هغه ځایه د مکې په لور وخوځېد چې په لاره کې د ۱۴۹۴ کال د ذوالقعدې په میاشت کې په تبوک کې وفات شو.

کله چې یو څوک له داسې راپورونو سره مخامخ کیږي، نو فکر کوي چې خوند امیر د میر علي شیر له اطرافیانو ؤ. دا خبره د دې لپاره تصادفي نه ده چې هغوی ډېر داسې څه درلودل چې د مجدالدین لپاره د پام وړ وو.

البته خوند امیر داسې فکتورونو ته اشاره کوي چې د نوموړي په هکله متفاوت تاثر رامنځته کوي. مجد الدین لکه د نورو وزیرانو په توګه د خپلو دښمنانو لپاره په جرم د اعتراف داسې لارې چارې جوړې کړې چې د مثال په ډول خواجه نعمت الله سرخ، د نوموړي په امر تر شکنجې لاندې ساه ورکړه.

خوند امیر په دې خبره ټینګار کوي چې د مجدالدین د تللو په وخت هم مهاله د هغه د دښمن میر علي شیر ورور، درویش علي ته هم اجازه ورکړل شوه چې مکې ته ولاړ شي. خو کله چې مجد الدین په عربستان کې مړ شو، درویش علي په خوندي توګه دوباره هرات ته راستون شو (۱۴۹۸) او یو ځل بیا بیګ ونومول شو.
نوموړی په ستردیوان کې د امیر نصیرالدین عبدالخالق چې د مشهور فیروز شاه لمسی او د شاه رخ د وخت له مخورو امیرانو ؤ، ترڅنګ د مُهردار په توګه وټاکل شو.

## د میر علي شیر وروستي کلونه (۱۴۹۴- ۱۵۰۱)

له ستونزو ډک وختونه (بوزوغلوغ) هغه وختونه چې میر علي شیر به په مجالسو کې خبرې کولې، د میر علي شیر او د هغه د طرفدارانو لپاره په بشپړ بړي سره ترسره شول. داسې ښکارېدل چې کېدای شي د وزیر نظام الملک لپاره ستر بری په لاره کې وي. د میر علي شیر په خېر، نوموړی د زده کړو ملاتړی ؤ. عالمان او شیخان د هغه له لورې پاملرنې برخمن وو. د هرات تاریخ چې معین الدین محمد اسفیزاري لیکلی او د هغې دورې معتبر تاریخ ګڼل کیږي، نوموړي ته ډالۍ شوی دی. نوموړی د مجد الدین په څېر د مظلومانو ملګری ؤ. د نوموړي کور حاجب او دروازه ساتونکی نه درلود او هر چا کولای شول د نوموړي کور ته آزاد ورننوځي او وزیر ته خپل شکایتونه وړاندې کړي. هغه د خواجه کمال الدین حسین او خواجه رشیدالدین عمدالملک په نامه دوه زامن درلودل، لومړنی ښکلی او سخنوره او دویم یې یو ښه عسکر ؤ. دوی دواړه د سلطان له اطرافیانو وو. دغه وزیر د ځواکمن دولت د معتمد شخص لقب ترلاسه کړی ؤ.
نظام الملک په قدرت کې ډېر پاتې نه شو. د نوموړي له قدرت څخه د لوېدو په اړه دوه دلیله مخې ته راځي چې له کورنۍ سره یې تړاو لري. لومړی او تر ټولو دمخه دلیل د چارواکو ترمنځ روان

نتیجه

---

دسایس او دویم دلیل د سلطان د کورنۍ ترمنځ رامنځته شوې ستونزې وې.

یو وخت نظام الملک له افضل الدین سره همکاري کوله خو اوس داسې ښکارېدل چې میل نه لري ځوک په قدرت کې شریک کړي. د افضل الدین ورور امین الدین محمود له بیاځلي ګمارل کېدو وروسته نظام الملک ناخوښه کړ چې بندي شو. یوازې یو یا دوه کاله وروسته نومو‌ړی له زندانه وتښتېد او د ښځو په لباس کې تر هغې پټ ګرځېده ترڅو چې ورور یې راستون شو.

د سلطان په کورنۍ کې له کوچنیو پېښو ستونزې را ولاړې شوې. هغه وخت چې د حصار بې هدفه جګړه پیل شوه، بدیع الزمان د خپل پلار په خوښه د استرآباد له ځواکونو سره یو ځای شو او په عملیاتو کې برخه واخیسته. د جګړې له پای ته رسېدو سره سم بدیع الزمان د بلخ والي وټاکل شو. خو د نوموړي زوی محمد مؤمن چې د خپل پلار په ځای په استرآباد کې پاتې ؤ، د بدیع الزمان د توقع پرخلاف د نوموړي د والي په توګه د ټاکل کېدو خبره ناخرګنده پاتې شوه. سلطان حسین د استرآباد واک خپل بل زوی مظفر حسین ته چې د سلطان د پام وړ ؤ، ور وسپاره. دا کار د سلطان او د نوموړي د مشر زوی ترمنځ د اړیکو پر ماتېدو تمام شو. بدیع الزمان خپل زوی محمد مؤمن ته امر وکړ چې مظفر حسین ونه مني او که اړتیا پیدا شي، له زوره دې کار واخلي.

په ۱۴۹۷ز کې میر علي شیر بلخ ته ولاړ چې بدیع الزمان له خپل پلار څخه په اطاعت کولو وهڅوي، دغه ماموریت د سلطان د غدر په پایله کې له ناکامۍ سره مخامخ شو، ځکه سلطان هم مهاله پټ حکم صادر کړی ؤ چې شهزاده ونیول شي. دغه حکم د بدیع الزمان په لاس ورغی او میر علي شیر باید هرات ته راستون شوی وای. شهزاده د خپل پلار په مقابل کې دښمني پیل کړه او په ۱۴۹۷ز کال د مې په دویمه له ماتې سره مخامخ شو. د یو پېچلي تصادف له مخې یوه ورځ وروسته محمد مؤمن په استرآباد کې د مظفر حسین له خوا ونیول شو او هرات ته ولیږدول شو.

د ۱۴۹۷ کال په سپټمبر کې نوموړی د اختیارالدین په ارګ کې بندي شو. یوه شپه چې سلطان د مرغاب په کمپ کې ؤ او ډېر شراب یې څښلي وو، د مظفرالدین مور خدیجه بیګې، نظام الملک او د هغه دوه زامن د سلطان له هغه امر خبر شول چې د خپل لمسي د وژلو په اړه یې صادر کړی ؤ. سبا ورځ کله چې سلطان دوباره په حال راغی، نو د امر د فسخه کولو په اړه یې یو قاصد هرات ته واستاوه خو اوبه له ورخه تېرې شوې وې. میر علي شیر په دغه وخت کې د زیارت لپاره مشهد ته تللی ؤ، نوموړی هرات ته له ستنېدو وروسته په دې واقعه خبر شو.

خوند امیر په پوره باور وایي، په هغو ورځو کې یې له میر علي شیر څخه په څو ځله اورېدلي وو چې د شهزاده وژنه به هماغه پایلې ولري کومې چې د مجدالدین بغدادي وژنې درلودلې. چې په ټولیزه توګه د خلکو په باور دا کار د چنګیز خان د اشغال سبب شو چې بیا وروسته د میر علي شیر دغه وړاندوینه د ازبکانو اشغال ته د اشارې کولو په معنا ګڼل کېدله.

د ۱۴۹۸ د مې په میاشت کې کله چې خواجه افضل الدین په ناڅاپي ډول هرات ته راوبلل شو، له هغې وروسته یې واورېدل چې په لوېدیځ فارس کې نوموړی د سلطان او میر علي شیر ډېر یادیږي. سلطان د خپل لمسي له وژلو وروسته د نوموړي په را رسېدو ډېر خوشحاله شو، د نوموړي احساسات د نظام الملک په هکله ساړه شوي وو (په داسې حال کې چې د خدیجه بیګې په اړه د نوموړي د احساساتو څرنګوالی نه دی بیان شوی). افضل له نظام الملک سره خپله دښمني پټه نه کړه. د یکشنبې ورځ د مې په دیارلسمه عمادالاسلام د نظام الملک د ښځې ورور (د هغه د اولادونو ماما) څوک چې شل کاله وزیر ؤ (د مجد الدین په وخت کې)، بندي شو. دا د را روان طوفان لومړی نښه وه. د شوال په پیل کې (د مې له درویشتمې وروسته) خواجه افضل وزیر وټاکل شو. په دغه وخت کې سلطان د اولنګ نشین په کمپ کې ؤ او د بدیع الزمان نوي برید ته

منتظر ؤ. په دې وروستى ځل سلطان د افغانستان په جنوب کې ؤ او له خپل زوى څخه يې د غچ اخيستلو لپاره تيارى نيوه. له ايسفيزر څخه د نظام الدين د (عسکر) زوى عمدالملک سره يوه پوځي قطعه د هغه پر ضد واستول شوه. وزير او مير علي شير له سلطان سره په کمپ کې پاتې شول. سلطان له مير علي شير سره د نظام الدين د مخ په زياتېدونکو کارونو په اړه مشوره وکړه او پرېکړه وشوه چې د نظام الدين ټوله کورنۍ ونيسي او شتمنۍ يې ضبط کړي.

د جون د مياشتې په پيل کې نظام الملک او د هغه خپلوان نظام الدين کورد د اولنگ نيشين په کمپ کې ونيول شول، يو قاصد د عمدالدين د نيولو له فرمان سره ايسفيزر ته واستول شو چې نومورى له نيولو وروسته هرات ته واستوي. مير علي شير شخصاً هرات ته ولاړ او ميرزا احمد ته چې په هرات کې مسئول ؤ، د نظام الملک د يو بل زوى کمال الدين په شمول د نظام الدين کورد د زامنو او خوريى، او د درباري وقايع نگار عبدالعزيز د نيولو حکم ور وسپاره. په دغه حکم کې د يو بل وقايع نگار کمال الدين عبدالواسع نظامي نوم هم شامل ؤ، داسې ښکاري چې نومورى په تېښتې بريالى شو.

مير علي شير په خپلو اشعارو کې په ډېر ژور درناوي له جامي يادونه کوي او نومورى يو له هغو کسانو ګڼي چې ترې معجزات پاتې شوي دي.

د خوند امير په قول، عبدالواسع يو له هغو کسانو ؤ چې د سلطان حسين د سلطنت په پيل کې يې غوښتل د نومورې تاريخ وليکي، خو سلطان د نومورې کار تصويب نه کړ او هغه يې ډېر تقليدي پيدا کړ. مجد الدين د نومورې خوشحاله حالت او شوخې خبرې خوښېدې. له دې وروسته نومورې هماغه علاقه د نظام الملک او د هغه د دوو زامنو په هکله پيدا کړه او د هغوى په وصف کې يې اشعار وويلې.

نيول شوي کسان د اختيارالدين په ارگ کې بنديان وو، يوه شپه د نظام الدين زامنو وشو کولاى له زندانه وتښتي خو په سبا يې ونيول شول او دوباره بنديان شول. د ذالقعدې د مياشتې په نيمايي (د جولاى د مياشتې پيل) کې ميرزا احمد او امير عبدالخالق په هرات کې د

سلطان حکم ترلاسه او په چټکۍ عملي کړ. يو جلاد ارګ ته را وغوښتل شو او د نظام الملک د دواړو زامنو سرونه يې د هغوی د پلار د سترګو په وړاندې غوڅ کړل او په خپله نظام الملک د ارګ دروازو ته يوړل شو او په ژوندون ترې څرمن وويستل شوه.

په هماغه ورځ د سلطان قهر د بديع الزمان په ملګرو، خواجه عمادالاسلام، نظام الدين کورد او محمود شاه فراهي وليدل شو.

خواجه افضل د خپلو ټولو دښمنانو له ليرې کېدو وروسته اوس د پوره ځواک لرونکی وزير شو. د مير علي شير په قول، هغه لقب چې د نوموړي لپاره جوړ شو، ډېر پېچلی ؤ او په دې ډول ؤ: د سلطنت او خلافت د ټولو لويو تاسيساتو قوماندان، د پادشاهۍ معتمد، وفاداره انصاف آنده افضل الدين محمد.

د مير علي شير له مرګ وروسته په داسې حال کې چې دی وزير ؤ، نوموړي ته د اميرانو او لويانو رتبه ورکړل شوه او د دواړو، ملکي او پوځي چارو واکدار شو. دا کار هغه وخت وشو چې بابر په ۱۵۰۴ کې کابل ته راغی.

موږ نه پوهيږو چې د نوموړي دوستانه اړيکو له مير علي شير سره هماغسې دوستانه دوام پيدا کړاو که نه، خو غير مستقيمې نښې نښانې برعکس تصوير ورکوي. د لويانو په منځ کې چې په پيل کې د خواجه افضل دوستان وو او بيا وروسته د نوموړي دښمنان شول، يو امير مبارز الدين محمد ولي بيګ ؤ. د خوند امير په قول، خواجه افضل دغه امير له پښو وغورځاوه او دی يې له هر ډول اغېزمن اهميت محروم کړ.

سلطان د ۱۴۹۸ز کال دوبی په اولنګ نيشين کې تېر کړ. مخکې له دې چې د نظام الملک برخليک معلوم شي د جمعې په ورځ د شوال په څليريشتمه د جون د مياشتې په دويمه د بديع الزمان د را رسېدو خبر ترلاسه شو. مير علي شير د سلطان په امر له مبارزالدين او څو نورو سره يو ځای د پوځ څلورمه برخه په هرات کې چمتو کړه او په هماغه شپه يې د سلطان د کمپ په لور حرکت وکړ. په سبا ورځ بديع

نتيجه

الزمان برید وکړ خو وځپل شو. سلطان په اولنګ نیشین کې له خپل زوی سره د مذاکراتو په منظور پاتې شو. د اګست په اته ویشتمه میر علي شیر له هرات څخه د کمپ په لور وخوځېد چې په سبا یې هلته ورسېد او له سلطان سره یې د هغو شرایطو په منلو خبرې وکړې چې د بدیع الزمان لپاره هم د منلو وړ کېدای شوې. سلطان په یودیرشم د اګست د جمعې په ورځ کمپ پرېښود او د سپټمبر په درېیمه د دوشنبې په ورځ هرات ته ورسېد.

د ۱۴۹۸ کال په مني کې د سلطان حسین دوو زامنو په مروه او ابیوارد کې بغاوت وکړ، د ډیسمبر په نولسمه نېټه سلطان خپل زوی محمد قاسم، میر علي شیر او امیر عبدالخالق په هرات کې پرېښودل او په خپله یې د مروې په لور مارش وکړ. د مروې محاصرې درې یا څلور میاشتې دوام وکړ، د دغې مودې په پای کې د پلار او زوی ترمنځ یو ډول سوله وشوه.

د محاصرې په دوران کې میر علي شیر مشهد ته سفر وکړ او له هغه ځایه یې د دربار ډاکټر عبدالحی چې نوم یې لا د مخه ذکر شوی دی، د سلطان حسین حضور ته د دې لپاره واستاوه چې له نوموړي څخه مکې ته د حج د مراسمو د ترسره کولو لپاره اجازه واخلي.

د سلطان حسین یو بل زوی حیدر محمد چې مشهد ته د مخه رسېدلی ؤ، د خپل پلار په هدایت له امیر شیخ احمد سهیلي سره یو ځای د ابیوارد پر خلاف مارش وکړ، خو دغه ځواک له ماتې سره مخامخ شو او دوباره مشهد ته راستون شو. میر علي شیر چې په مشهد کې ؤ د شهزاده او امیر په پلوی ودرېد. عبدالحی د میر علي شیر د حج په نیت سفر په هکله د سلطان له مهربانۍ ډک ځواب سره راستون شو خو سلطان میر علي شیر ته سپارښتنه کړې وه چې د ترکمنانو تر واک لاندې سیمو کې د ناارامیو له کبله له خپل دغه مقدس سفر څخه تېر شي او هم مهاله له هغه څخه یې غوښتي وو چې د مروې پولو ته نږدې له مېشت کمپ سره یو ځای شي. میر علي شیر د مشهد له سیدانو سره مشوره وکړه، په تولیزه توګه پرېکړه وشوه چې نوموړی هلته د پلار او زوی ترمنځ د پخلا کېدو او سولې

راوستلو په لړ کې هڅې وکړې. میر علي شیر د ۱۴۹۹ز کال د سپرلي په پیل کې حرکت وکړ، مروې ته د تلو په لار کې د شیخانو په سیمه کې خبر شو چې پلار او زوی د میر علي شیر د ورور درویش علي په منځګړتوب سولې ته رسېدلي دي. درویش علي د شهزاده په غوښتنه د سلطان له خوا مروې ته لېږدول شوی ؤ. سلطان ژر د شیخانو سیمې ته را ورسېد او په بازرګان توبا (د تاجرانو تپې) کې له میر علي شیر سره وکتل.

دوه یا درې ورځې وروسته میر علي شیر اجازه ترلاسه کړه چې هرات ته راستون شي، نوموړي ته وویل شول تر هغې چې له سلطان سره یوځای وي، نو د هغه هرې غوښتنې ته به مثبت ځواب ووایي. میر علي شیر مزار ګذارګاه ته نږدې لوی سیدان، قاضیان، شیخان او عالمان سره راټول کړل او له هغوی څخه د تود هرکلي په ترڅ کې وغوښتل چې د درویشۍ او زهد په لار کې له نوموړي سره مرسته وکړي.

دا ډول وړاندیزونه په ډاګه کوي چې میر علي شیر نه یوازې د خپل دریځ او مقام په هکله متیقن نه ؤ، بلکې قصد یې درلود چې د سلطان خدمت او د نوموړي تر تسلط لاندې سیمې پرېږدي. په هماغه کال ۱۴۹۹ز کې د سلطان د نوموړي د کاکا زوی وواژه چې دا چلند د میر علي شیر لپاره دردناک تمام شو.

په ۱۴۸۸ز کال کې د نوموړي له ګوښه کېدو وروسته حیدر نه یوازې په خبرو بلکې په عمل کې درویش شو، نوموړي د هرات نمازګاه ته نږدې د چشمه ماهیان په محل کې یوه صومعه جوړه کړله. نوموړی په ورځ کې یو یا دوه ځله په قلندري لباس کې د هرات په بازارونو کې ګرځېده او د خپلې صومعې لپاره یې پیسې او خواړه را ټولول. لږ وخت وروسته نوموړی بلخ ته ولاړ او هلته د سلطان د زوی ابراهیم حسین له ملاتړ برخمن شو، ابراهیم حسین له ۱۴۹۷ز کال راهیسې د بلخ حاکم و. حیدر د سیاحیه (شاید سپاحیه) په صومعه کې اوسېده، نوموړي خپل لګښت په خپله غاړه واخیست. یوه ورځ یو

نتیجه

---

باوري درويش ولي چې د شهزاده له پام برخمن ؤ، د حيدر له اجازې پرته د نوموړي صومعې ته ننوت. حيدر امر وکړ چې نوموړی دوه سوه دُرې ووهي او بيا وروسته يې په پخلنځي کې په کار وګماري. شهزاده له دې پېښې خبر شو، حيدر د شهزاده د قهر له وېرې قندوز ته وتښتېد، په قندوز کې خسروشاه نوموړي ته تود هرکلی ووېلې. په ۱۴۹۹ز کال کې خسروشاه د سلطان حسين تر واک لاندې ځينې سيمې ونيولې او په بلخ کې يې پانګونه وکړه.

کله چې سلطان حسين له سرخس څخه د خپل زوی مرستې ته ولاړ، خسروشاه محاصره پای ته ورسوله او قندوز ته ستون شو، نوموړي له قندوز څخه حيدر له سلطان حسين سره د مذاکرې لپاره واستاوه. په شاهي کمپ کې حيدر، د سلطان حسين پر خلاف د خسروشاه په تحريکولو تورن شو. نوموړی ونيول شو او يو څو ورځې وروسته ووژل شو. مير علي شير د دې خبر په اورېدو سخت غمګين شو.

نوموړي د حيدر مړی د هغه د وژل کېدو له ځايه يعنې د بابا خاکي له کمپ څخه هرات ته راوړ او په هماغه صومعه کې خاورو ته وسپارل شو چې حيدر جوړه کړې وه. مير علي شير د حيدر له کوچنيانو او خپلوانو سره هم مرسته کوله.

د مير علي شير غم يوازې دومره نه ؤ چې هغه د سلطان له خدمت څخه لېری کړي او يا نوموړی د سلطان له هغې غوښتنې له ځوابولو منع کړي چې کله ناکله به يې د نوموړي مشورې ته اړتيا پيدا کوله. د سلطان حسين لپاره د هغه د زامنو جګړه په يوه خطرناکه مرحله کې داخله شوې وه. نوموړي يو ځل بيا له بابا خاکي څخه د مروې او ابيوارد په لور مارش کاوه. د مروې شهزاده په ابيوارد کې له خپل شهزاده ورور سره يو ځای شو او دواړو شهزادګانو په ځوابي بريدونو پيل وکړ. هغوی په پيل کې خپلو تعقيب کوونکو ته ماتې ورکړه خو بيا وروسته په خپله خراب شول. د مروې شهزاده خپل ښار ته راوګرځېد، په داسې حال کې چې د ابيوارد شهزاده استرآباد ته ولاړ، چېرته چې د سلطان حسين بل ياغي زوی محمد حسين والي ؤ.

سلطان د استرآباد په لوري مارش وکړ، استرآباد یې ونیو او پنځلس ورځې هلته پاتې شو. هرات امیر مبارزالدین ته پاتې ؤ چیرته چې نوموړی د خپل قدرت اوج ته ورسېد. نوموړي بیا سلطان ته د بدیع الزمان د بغاوت په اړه راپور ورکړ، سلطان په بیړه د ختیځ خواته راغی او استرآباد هماغه احمد حسین ته پاتې شو.

میر علي شیر له هرات څخه د دفاع لپاره د مبارزالدین په خوا کې ودرېد، کله چې خبر شو د سلطان پوځونه رانږدې شوي دي نو بدیع الزمان ته یې یو قاصد په دې منظور ور واستاوه چې نوموړی وهڅوي د خپل پلار په وړاندې له جګړې لاس واخلي. سلطان حسین ته څرګنده شوه چې د نوموړي پوځیان د هغه د زوی له پوځیانو کم همته دي. له دې وروسته نوموړي له میر علي شیر سره مشوره وکړه او ویې ومنله چې د بلخ ښار او هغه سیمې چې د آمو او مرغاب سیندونو ترمنځ غځېدلي بدیع الزمان ته پرېږدي او دا شرط هم ومنل شو چې په خطبه کې د بدیع الزمان نوم د هغه د پلار له نامه سره یو ځای ولوستل شي. په همدې توګه حتی خسروشاه د بدیع الزمان مزاحمت ومانه او راضي شو چې د نوموړي نوم په خطبه کې شامل او همدارنګه په قندوز، بغلان، تیرمیده، حصار، قابادیان، خطه لان او بدخشان کې پر سکو حک کړي.

د ۹۰۶ ق کال د محرم په میاشت کې سلطان حسین یو ځل بیا د استرآباد په لور مارش وکړ چېرته چې د نوموړي زوی احمد حسین دویمه پلا بغاوت کړی ؤ.

میر علي شیر او مبارزالدین یو ځل بیا دهرات د مسوولینو په توګه په داسې حال کې پاتې شول چې منی او ژمی په آرامې سره تیرشو. له دې برسیره چې د سمرقند د نیولو لپاره له ازبکانو سره سخته مبارزه روانه وه.

له هغې وروسته چې شیباني سمرقند ونیو او د دې ښار والي سلطان علي یې وواژه، هغه مجبور شو چې دغه ځای په مؤقت ډول ظهیرالدین بابر ته (د ژوند په لومړیو ورځو کې) پرېږدي.

## نتیجه

په ۱۵۰۱ز کال کې د میر علي شیر له مړینې وروسته سمرقند په غوڅ ډول له ازبکانو سره یوځای شو. په ډېره سمه توګه، بابر خپله حیرانتیا ځرګندوي چې د سلطان حسین په شان یو تجربه لرونکی واکدار چې د شیباني له فعالیتونو خبر ؤ باید په دغو مبارزاتو کې برخه نه وای اخیستې او له نوموړي سره یې باید مرسته نه وای کړې. داسې ښکاري چې د سمرقند په لور لشکرکشي د استرآباد له بې هدفه جګړې ډېره غوره وه کومه جګړه چې په اوربند پای ته ورسېده.

بیلین دا جګړه یوه داسې جګړه بولي، په کومه جګړه کې چې د بدیع الزمان له خوا هیڅ ډول مرسته را ونه رسېده. بابر د میر علي شیر په هکله وایي، نوموړي یوازې په سمرقند کې د میر علي شیر یو لیک ترلاسه کړ چې ځواب یې ورکړی ؤ. له دې وروسته نوموړي ورته یو ترکي شعر ور استولی ؤ چې اوبه له ورخه تېرې شوې وې او د ځوابولو وخت یې تېر شوی ؤ.

د ډیسمبر په اته ویشمه د سلطان د راستنېدو خبر را ورسېد. میر علي شیر د سلطان او د نوموړي د پوځ د لیدلو لپاره مخې ته ورغی، خو دا وار د نوموړي وروستی وار ؤ. اوس نو سلطان او هغه وزیر دواړه ډېر زیات زاړه شوي وو، په داسې حال کې چې میر علي شیر شپېته کلن او سلطان دوه شپېته کلن ؤ. میر علي شیر کولای شول چې په آس سپور شي خو سلطان ته کجاوه په کار وه. د هغوی ملاقات د پنجشنبې په ورځ د ډیسمبر په یو دېرشمه ترسره شو. کله چې میر علي شیر له آس را ښکته شو چې د سلطان کجاوې ته ځان ور ورسوي، د هغه تر اوږو لاندې دوه کسه ننوتي وو چې له سلطان سره په قدم اخیستو کې مرسته وکړي. نوموړي وشو کولای چې سلطان ته ورسیږی او لاس یې ښکل کړي، خو له هغې وروسته په ناڅاپي توګه یې پر ځمکه پرلت وواهه او ویې نه شو کولای چې بیا راپورته شي او یا د سلطان پوښتنو ته ځواب ووایي. بابر هم دغه منظر همداسې تشریح کوي، نوموړی وایي، میر علي شیر کولای شول چې سلطان ته ښه راغلاست ووایي، خو د پورته کېدو وس یې نه درلود او په یوه تذکره کې غځېدلی ؤ. ځوان تاریخپوه خوند امیر چې د میر علي شیر د

ژوند په وروستيو ورځو کې حضور درلود، په دغه بحث کې برخه واخيسته. ډاکټر موافقه ونه کړه، ځينې په دې نظر وو چې دغه ناروغه سړی مخکې له دې چې هرات ته منتقل کړي، صبر وکړي چې لږ څه ښه شي خو ځينې نورو د عبدالحی په شمول چې د خورا لوړ روغتيايي صلاحيت څښتن ؤ، ټينګار کاوه چې دغه بې اعتباره ناروغ سمدستي هرات ته ورسوي او د نوموړي په هکله له بهترينو ډاکټرانو سره مشوره وکړي. په دې وروستۍ فيصله عمل وشو خو په لاره کې د ناروغ حالت نور هم خراب شو. د خوند امير په قول، پرېکړه وشوه چې چټک تدابير ونيول شي خو د سلطان اجازه بايد اخيستل شوې وای، درې فرسخه لاره نوره هم ووهل شوه خو فرصت له لاسه ولاړ، د وينې ورکولو هڅه وشوه خو ګټه يې ونه کړه او بلاخره ناروغ د ۱۵۰۱ز کال د جنوري په دريېمه د يکشنبې په ورځ ساه ورکړه.

د جنازې مراسم په شانداره توګه ونيول شول، په مراسمو کې سلطان او د نوموړي مېرمنو د ملکه خديجې په شمول ګډون وکړ. ملکه خديجه بيکې په شاهي کورنۍ کې د اړودوړ د رامنځته کولو مسئوله ګڼل کېده، هغه کار چې مير علي شير يې په سختۍ غندنه کړې وه. سلطان د ماتم درې ورځې د خپل متوفا دوست په کور کې تېرې کړې. د جامع مسجد په شمال کې يوه برخه چې د مير علي شير له خوا جوړه شوې وه، د نوموړي د تدفين لپاره غوره شوه. د نوموړي د مړينې په اوومه ورځ د هغه په ياد يوه پرتمينه غونډه په هودي ماهيان کې چې د هرات د نمازګاه په شمال کې موقعيت لري، جوړه شوه. احتمالا دا هم هغه (چشمه ماهيان) ده چېرته چې د حيدر صومعه او مقبره موقعيت لري. د نوموړي په ياد جوړه شوې مېلمستيا کې فوق العاده زياتو خلکو ګډون وکړ. د سلطان لپاره يوه خېمه درول شوې وه چې اوه پوړه لوړه وه. د حضارو له جملې څخه (البته معززه خلک) رابلل شوو خلکو ته سلطان له مهربانۍ ډکه وينا وکړه او هغوی يې د دغې لويې ضايعې اوغم زغملو ته تشويق کړل.

نتیجه

---

د میر علي شیر د شخصیت تاریخي اهمیت د نومورړي له خپلو ادبي فعالیتونو جلا د هغه په ودانیزو کارونو پورې اړه لري، په ځانګړې توګه د نومورړي ملاتړ په ساینسي او غیر ساینسي برخو کې. په دې اړه د هغه خدمتونه د شک له سرحده لیرې پټپیل کیږي. د نومورړي نوم د لویو تاریخپوهانو په لړ کې راځي، لکه میرخوند (په ۱۴۹۸ کې د شپږشپېته کلنۍ په عمر مړ شو) او خوند امیر (۱۴۷۵-۵-۱۵۳۴) آرتیست بهزاد او ډېر نور. البته ټولو پوښتونکو د علم او ادب له ملاتړو خپل د قناعت وړ ځواب نه شو ترلاسه کولای او تر پایه به د هغوی له پام برخمن نه وو.

د ایي جي برون په قول، دولت شاه د خپل کتاب، ادبي ګلچین یه سریزه کې یو شکایت او غوښتنه لري چې باید زغمل شوی وای او میر علي شیر، دولت شاه ته لږې ځانګړې خبرې نه، بلکې یوه اوږده قصیده په دې هیله ډالۍ کړې وه چې د نومورړي د پام وړ وګرځي. میر علي شیر د دولت شاه ستاینه د دې لپاره کوي چې نومورړی له یوې نجیبې کورنۍ سره پر تړاو لرلو سربېره په ډېر کم عاید قناعت کړی ؤ او له هر څه ګوښه د کتابونو په مطالعه کولو بوخت ؤ.

میر علي شیر په ډېرو برخو کې علاقه درلوده. د شاعرۍ په خوا کې نومورړي د میوزیک او خوشنویسۍ علاقه من هم ؤ چې په خپلو اشعارو کې له آرتستانو او شاعرانو هم یادونه کوي. همدارنګه نومورړي نورو تاریخپوهانو او خوشنویسانو ته هم یوه ځانګړې برخه لري، هغه چا چې د لویو ودانیو لپاره په کانو لویې لوحې ترتیب کړې وې. د میر علي شیر په خدمت کې د هغو آرتستانو له جملې څخه چې له نومورړي راضي نه وو، یو هم نقاش حاجي محمد دی. کېدای شي د نومورړي هویت د میر علي شیر له ښکلې لیکنې چې د (بشر په جامه کې پرښته) نومیږي، سره تړاو ولري، نومورړی په میر علي شیر له خپل اولاده هم ډېر زیات ګران ؤ.

حاجي محمد د شمېرو په شکل ورکولو او تذهیب کې لویه بسیاینه درلوده. یو څه وخت نومورړي په چینایي جوړو شیانو کار وکړ چې له

اوږدې تجربې وروسته، چین ته ورته کشتیو په جوړولو بریالی شو چې البته رنګونه یې ډېره خالصه نه وه.

نوموړی د میر علي شیر تر لاس لاندې یو کتابدار ؤ، نوموړي په دغه کتابتون کې یو ساعت چې د یو صندوق شکل یې درلود، جوړ کړی ؤ چې د شمېرو په اړولو سره یې د مامورینو د وخت تېرولو ساعتونه معلومول. په ۱۴۹۸-۹ کې حاجي محمد د میر علي شیر پرخلاف ودرېد او له بدیع الزمان سره چې په هغه وخت یې هرات محاصره کړی ؤ، یو ځای شو. نوموړی د بدیع الزمان تر لاس لاندې هم د کتابدار په دنده وګمارل شو او د ازبکانو د بري په لومړي کال مړ شو.

یو بل سړی، تاریخپوه او شاعر بنایي، چې د میر علي شیر سرسخته مخالف ؤ په ۱۵۱۲ کال کې په قرشي کې هغه وخت ووژل شو چې نوموړي ښار سقوط وکړ او ټول اوسېدونکي یې قتل عام شول. بنایي له میر علي شیر سره له شخړې وروسته په آذربایجان کې له سلطان یعقوب سره ملګری شو. څه وخت وروسته په کور کې ناروغه (نوموړی اصلا هراتی ؤ) او دوباره خراسان ته یوړل شو، خو نوموړی یو ځل بیا له میر علي شیر سره په شخړه اخته شو او سمرقند ته ولاړ. هلته د سلطان علي له خوا یې تود هرکلی وشو، په ترکستان کې د تیموریانو له پرځېدو وروسته له ازبکانو سره یوځای شو. میر علي شیر وایي، نوموړی یو ستر ډالی شوی عالم ؤ او په ساینسي علومو کې یې ساری نه درلود. مګر ډېر مغروره او ژر تېری کوونکی ؤ. په همدې دلیل نوموړي فقیرانه ژوند ته ترجیح ورکوله، څه به یې چې خوښه وه، هم هغه به یې ترسره کول، خو کوم داسې لارښود یې غوره نه کړ چې نوموړي ته یې ګټه رسولې وای، نو ځکه تش لاسی پاتې شو. په هرات کې له خلکو سره د شخړو له امله پاتې نه شو، نو (فارسي) عراق ته ولاړ، خو دا چې یو مستعد سړی ؤ، ویې کولای شول د خپلې بدبختۍ له امله پښېماني او تواضع ته رجوع وکړي. بنایي د منځنۍ کچې سړی ؤ (اوسط الناس) او

## نتیجه

---

کېدای شي د نومورړي له حده زیاته اندک رنجي د نیاګانو له خوی او خاصیت سره پرتله شي. د بابر له حسابه له میرعلي شیر سره د بنایي له دویمي پلا شخړې داسې انګېرل کیږي چې د میر علي شیر یوې ناڅرګندې ټوکې ته په تېزه او تنده لهجه له ځواب ورکولو را منځ شوې وي. یوه ورځ کله چې میر علي شیر د شطرنج په لوبه بوخت ؤ، خپله پښه یې وغځوله چې په خطایی توګه د بنایي له چوکۍ سره ولګېده، نومورړي وویل (په فارسي) پروا نه کوي!

په هرات کې که چېرې تاسو خپله پښه وغځوئ، نو معنا یې داده چې کوم شاعر د شا له خوا په لغته وهئ. بنایي (هم په فارسي) ځواب ورکړ چې د ژباړلو وړ نه دی.

کله چې شیباني هرات ونیو، نومورړي په ښکاره توګه د خراساني واکدارانو، نیاګانو او نیکونو د لاس خلاصی په اړه یوه مبالغه آمیزه نظریه درلوده چې په فرضي توګه د شاعرانو له خوا رواج شوې وه. بنایي ته دنده ورکړل شوې وه چې له هغوی څخه پیسې را ټولې کړي. نومورړي هڅه کوله چې له هغو شاعرانو طلا وغواړي چې لا تر هغه وخته یې د طلا رنګ هم نه ؤ لیدلی.

دا خبره له ظلم الهام اخلي چې د نومورړي له آدرسه د یوه نامنلي شعر په معنا ده.

همدارنګه په دې اړه همدې کیسی ته ورته یوه بله کیسه ده. میر علي شیر له شاعر خواجه علاوالدین ثنایي سره چې د سلطان حسین په خدمت کې یو چارواکی ؤ په مخالفت کې رامنځته شوې ده. په شعر کې د نومورړي شهرت خورا اوچت ؤ خو ویل کیږي چې د نومورړي رسمي چلند له غریبو پرګنو سره ظالمانه ؤ. یوه ورځ نومورړي د میر علي شیر له آدرسه یو فارسي شعر ولوست چې د تمسخر له اړخه شکمن ښکارېده:

سبا ته کله چې په میدان کې توري بربنډیږي
د میر علي شیر د بازو زور به معلومیږي

د ثنایي په هکله د سلطان فکر په تدریجي ډول زهرجن شو او یوه ورځ یې یاسوال ته امر وکړ چې د نومورړي شاعر له سره د هغه

لونګۍ راوغورځوي. په دغه وخت کې میر علي شیر یو فارسي فی البدیهه شعر داسې ووایه:

تا له سره د لونګۍ بار سپک کړ
اوس را سپک کړه بار د غاړې

ثنايي بندي شو او په زندان کې يې د شپږو کالو په موده کې ډېر اشعار ولیکل. هغو ورځو کې نوموړي یو غزل میر علي شیر ته ولیکه چې داسې پیلېده:

څه چې هیڅکله تاته نه در رسیږي هغه زما شکایت دی
څه چې هیڅکله ستا په زړه کې نه تېرېږی هغه زما یاد دی
خو میر علي شیر په دې اړه توجه ونه کړه.

سلطان حسین او د نوموړي پلازمېنې میر علي شیر د اوږدې مودې لپاره و نه ساته. د بابر په قول، د شاهي کورنۍ د اطرافیانو د حماقت له امله د ازبکانو لپاره برى آسانه شو. د سلطان حسین له مرګ وروسته هغوی هم مهاله بدیع الزمان او مظفر حسین سلطانان اعلان کړل، هغه څوک چې له یو بل څخه یې نفرت درلود.

په ۱۵۰۷ز کال کې هرات لا دمخه د ازبکانو په لاس ورغلی ؤ او د تیموریانو په کلتوري مرکز کې یو کلیوال یاغي (چې دنیا یې نه وه لیدلې) په تخت تکیه وهلې وه. د دوزي هغه رسا جمله په یوولسمه پیړۍ کې د هسپانیې د پېښو په اړه مشهوره ده، یو مهذب کلتور د بربریانو تر پښو لاندې کېدل او د ګستاخانو تازه دوران ته رسېدل زړه ماتوونکي دي. زموږ په زمانه کې بلاغت لرونکي ساتونکي بې ځایه شوي دي، یو څوک کولی شي د شیانو د ورکېدو په اړه په آرامه وغږیږي، لکه په طبعیت او په بشري ژوند کې هر شی په خپل ځان کې دننه بربادوونکي میکروبونه راوړي. هغه څه چې په بشري کلتور کې غور دي، نه فنا کیږي، بلکې لاس په لاس راتلونکو نسلونو ته انتقالیږي او همدارنګه یو ښاري مهذب کلتور.

شیباني ته په خپله هغه کلمات اعتبار ښني چې وایي حقیقت له لمر څخه هم روښانه دی او لکه پرون ورځ لا زیات د باور وړ دی. د

## نتیجه

پیغمبر له زمانې را پدېخوا تر نن ورځې پورې د سلطان حسین په شان د لویو زده کړو، ذکاوت او تهذیب څښتن، په نامه بل څوک نشته.
دا کلمات چې تل په ژبه راځي، د سلطان حسین شخصیت ته لږه، د درناوي پېرزوینه څرګندوي.

هغه څوک چې شیباني یې احتمالا ډېر لږ پېژني، خو هغه عالي او نفیس کلتور چې په پلازمېنه کې د سلطان او د نوموړي د مرستندویه ملګرو له خوا په هرات کې جوړ شوی ؤ، د بابر په باور په ټوله نړۍ کې یې ساری نه درلود.